
k
عاشقي
ناول
Ketabton.com
ليکوال: نيک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم: عاشقيو ((ناول))

ليکـوال: نيک محمد بارک ((موسوي))

کمپوز او ډيزاين: نيک محمد بارک ((موسوي))

کـــــال: ۱۳۹۸

پتـــــه: کندهار/افغانستان

ايميـل:naikbarak786@gmail.com

فيسبوک: Naik Barak Musavi

موبايل او واټسف: 0702110371

ټول حقوق د ليکوال سره خوندی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبری

نحمدو و نصلی علی رسول الکریم اما بعد فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم:

د الله تعالی ډیر شکر ګزاره یم چی ما ته یی یو ځل بیا د یوی لیکنی د پوره کیدو توان او توفق راکړ نوموړی ناول چی تاسو به یی ولولی په اسانه او کره پښتو لیکل سوی ناول دی خو لکه څنګه چی دا زما دوهم ناول او اتم کتاب دی نو شاید نیمګړتیاوی ولری ستاسو محترمینو لوستونکو څخه هیله کوم چی د نورو ناولونو په لا سم لیکلو کی را سره کومک وکړی، هیره دی نه وی چی نوموړی ناول عصری ژوند ته په کتو لیکل سویدی او د اصلی ژوند زیاتی برخی په کښی را اخیستل سویدی نوموړی ناول صرف د تفریح لپاره جوړ سویدی هیڅوک دی سیاسی او مذهبی رنګ او نوم نه ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب هدف

۱ـ پښتو ژبه بډایه کول.

۲ـ ځوانان په مطالعه بوختول.

۳ـ خوانان د غربییزم او هندوییزم د وحشی او دین او کلتور ته تاوانی فلمونو او سریالونو راګرځول.

۴ـ ځوانانو ته د ستونزو حل لاری ښودل او د کاروبار پرمختګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ناول**

شرنګهاری سو موبایل ته زنګ را روان وو د ډیر وخت وروسته ظفر خان موبایل ته جواب ورکړ: السلام علیکم خان صاحب سلطان یم ستاسو د کمپنی منشي د مرکز څخه می در سره تماس نیولی دی مبارک مو سه خان صاحب ستاسو زوم وصال د هیواد په سطحه د لوی او ځوان تجار اوارډ ته انتخاب سویدی سبا مراسم دی نو تاسو باید نن ماښام ته ځان را ورسوی،

ظفر خان ډیر خوشحاله سو او خپل منشی ته یی په مسکا وویل: مننه ددی ښه خبر څخه دی انشاءالله موږ به ماښام ته ځان در ور رسوو،

سبا ته مراسم جوړ سول د ټول هیواد څخه لوړ پوړی چارواکی او بهرنې میلمانه راغلی وه د غونډی ویناوال وویل: تاسو ټولو میلمنو ته ښه راغلاست وایم دوستانو په نننې مراسمو کی به د هیواد په سطحه غوره تجارانو ته موږ د کال د غوره تجارانو اوارډونه ورکړو ددی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوارډونو لپاره موږ د هیواد پنځه غوره تجاران انتخاب کړیدی چې لومړی مقام پکښې د هیواد یو غوره او ځوان تجار ګټلی دی نوموړی نه یوازې چې هیواد ته یې د تجارت په بخش کې پرمختګ ورکړیدی د هغه تر څنګ یې په زرهاوه غریبان او بیکاره خلکو ته د کار زمینه مساعده کړیده او بل دا چې نوموړی د خپل مال زیاته برخه پر مسکینانو او غریبانو ویشي چې ښه مثال یې د رخسار په نوم خیریه بنسټ دی نوموړی هر کال ددې خیریه بنسټ له لارې د هیواد ټولو غریبو اشخاصو ته کمکونه او مرستې رسوی نو ایا دا شخص تاسو وو ایست چې ددې اوارډ وړ دی او که نه؟

ټولو میلمنو وویل: هو همدا شخص ددې اوارډ لپاره تر ټولو غوره شخص دی،

ویناوال وویل: موږ هم همدا ځوان ددې اوارډ لپاره انتخاب کړیدی چې لومړی مقام یې تر لاسه کړیدی نو راځو دوستانو همدا شخص به تاسو ته در وپیژنو او ژر تر ژر به یې د لومړی مقام په اوارډ ونازوو، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی مقام ګټونکی ځوان ښاغلی وصال دی!!!! ټولو میلمنو چکچکی کولی او د وصال ملګری او خوسر ډیر خوشحاله وه او هغه ته یی مبارکی وویل،

ویناوال وویل: د ښاغلی وصال څخه هیله کوو چي د سټیج ومخته راسی خپل اوارډ تر لاسه کړی او د هیواد د ریس جمهور صاحب څخه هیله کوو چی دا اوارډ ښاغلی وصال ته په خپلو لاسونو ورکړی،

د هیواد ریس جمهور وصال ته د کال د غوره تجار د لومړی مقام اوارډ پخپلو لاسو ورکی، خو وصال هیڅ خوشحاله نه وو او په نا زړه به یی مسکا وکړه،

ویناوال وویل: اوس هم ښاغلی وصال ته بلنه ورکوو چی میک ته راسی او د خپل ژوند او ددی اوارډ په اړه تاسو ته وینا وکړی ښاغلی وصال!!!

ټولو میلمنو چکچکی وکړی او فکر یی کاوه چي وصال به د خپل ژوند په اړه ډیر څه ووایی خو وصال چی کله میک ته ورغلی نو صرف یی مننه ستاسو ټول څخه وویل او ولاړی ټول میلمانه ډیر حیران سول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیرانی یی بیا هم چکچکی کولی وصال چی کله د ستیج څخه راکښته سو نو مستقیم د غونډی څخه ووتی خلک نور هم حیران سول، خبریالانو غوښتل چی د وصال سره خبری وکړی خو وصال د هغو څخه بخښنه وغوښته او په خپل موټر کی کښینستی،

ماښام ډوډی تیاره سوه وصال او ظفر خان او نوره کورني سره ناست وه او ډوډی یی خوړل ټول زیات خوشحاله وه او د وصال د اوارډ په هکله ږغیدل خو وصال چپ ناست وو او ډوډی یی خوړل په دی وخت کی د وصال خواښی په زهیره لهجه وویل: وصاله زویه که نن رخسار ستا دا اوارډ لیدلای وای نو زیاته به خوشحاله سوی وای،

په دی خبره سره ټول ډوډی پریښوول او حیران حیران یی د سترګو تر بغلو وصال ته وکتل وصال هیڅ ونه ویل او د ډوډی څخه ولاړ سو لاس یی پریولی او خپلی کوټی ته ولاړی ظفر خان خپلی میرمنی ته په درد وویل: ډاکټر نه وه ویلی چی د وصال ومخته د رخسار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم مه یادوی، وصال د کوټې دروازه وټړل او خپل اوارډ یې را واخیستې او د میز پر سر یې د یو انجلۍ د عکس ومخته کښیښوی او خپله د میز ومخته لاندې پر مځکه ورته کښینستې، ظفر خان او کورنۍ یې لا و ډوډۍ ته ناست وه څو شیبې وروسته د وصال د کوټې څخه د موسیقۍ د یو غمګین ساز ږغ سو ټول حیران سول او یو وبل ته یې وکتل چي په دې وخت کې د کور یو مزدور راوځغستل او ناره یې کړه: خان صاحب خان صاحب وصال بیا په ځان پسې دروازه تړلې ده هله ژر راسې، ټولو د وصال د کوټې وخواته ور وځغستل ګوری چې دروازه تړلې ده ظفر خان دروازه ور وټکول او ورناری یې کړی: وصاله! وصاله! دروازه خلاصه کړه وصاله زویه وایم دروازه خلاص کړه، خو وصال دروازه نه خلاصول ظفر خان خپلو مزدورانو ته وویل: ونیسی هلی دروازه ورماته کړی، ټولو یو دم پر دروازه ور وځغستل او په څو واری سره یې دروازه خلاص کړه چې ګوری وصال کټ ته څنګ وهلی دی د رخسار عکس یې په غیږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولی دی او تر دواړو لاسو یې وینې بهیږی ټولو پر را وځغستل، ظفر خان وصال په غیږ کی راپورته کړ او مزدورانو ته یې وویل هلی امبولنس ته زنګ ووهی، وصال یې روغتون ته ور رسوی او عملیات یې ورته شروع کړل، څو شیبی وروسته د عملیات خانی زرغونه اشاره ولګیدل ټول ډیر خوشحاله سول، ډاکټران راووتل او ظفر خان ته یې وویل: ظفر خانه! یو ځل بیا ستا زوم د مرګ د خطره وژغورل سو خو که یې بیا داسی کار وکړ نو بیا موږ هغه نسو ژغورلای ځکه د هغه دا رګ موږ څو ځایه ګنډلی دی نور ځای نسته چی ویګنډو او په ډیره زیاته اندازه وینه دی هر وار په داسی کار کولو ضایع کوی زه دا درته وایم که یې بیا داسی وکړه نو د زوم څخه دی لاس پریوله چي هغه دی بیا ژوندی پاته سی،

ظفر خان وویل: څه ور سره وکم ډاکټر صاحب نصحیتونه خو می ډیر ورته وکړل خو د هغه رخسار لورمی نه هیریږی او هر واری چی یې څوک ورته نوم ووایی دی په ځان دا چم وکی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر وویل: ظفرخانه ما څو واری تاسو ته وویل چی دده په مخکی د رخسار نوم مه یادوی،

ظفر خان د وصال د عملیات خانی و اطاق ته ورغلی او وصال ته یی یو څو شیبی کتل او بیا یی هغه پر مخ ټینګه چپلاخه ووهلی او په ژړا یی ورته وویل: ته ولی داسی کوی ایا په داسی کولو سره به رخسار بیرته تاته راسی او که هغه په داسی کولو خوشحالیږی یاد دی نه دی هغی چی به ستا پر بدن یو کوچنی د اغذې زخم لا ولیدی نو لیونی به سوه تا چی د هغی سره کوم قول کړی وو هغه دی دا دی څو واری ماتی کړی لور خو می د لاسه ورکړه خو نه غواړم زویه چی ته می هم یوازی پریږدی،

د وصال تر سترګو بی اختیاره اوښکی رابهیدلی ټول کټ یی په اوښکو لوند سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عاشقیو

موسٰی د بانک مدیر وو هغه په دی وظیفه کی ډیری پیسی تر لاسه کړی وی کاروبار یی برابر وو د هغه دری زامن وه میرمن یی بیا حامله وه دوی ډیر خوشحاله وه او د راتلونکی اولاد لپاره یی تیاریٔ نیوی، موسٰی او میرمنی یی غوښتل روغتون ته د دوا لپاره ولاړ سی چی په لاره کی یی موټر ټکر وکړ دواړه ټپیان سول او روغتون ته ویوړل سوه موسٰی لږ ټپی وو خو میرمن یی زیاته ټپی سوی وه ډاکټرانو د موسٰی عملیات ور وکړ خو د میرمنی عملیات یی لا شروع وه موسٰی د خپلی میرمنی عملیاتو ته انتظار سو څو شیبی پس ډاکټران را ووتل او موسٰی ته یی وویل: موسٰی صاحب مبارک مو سه زوی مو پیدا سو،

موسٰی ډیر خوشحاله سو او ډاکټرانو ته یی وویل: ډاکټر صاحب زما میرمن څنګه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټرانو وویل: موسٰی صاحب موږ بخښنه غواړو موږ ستا میرمن ونسوای ژغورلای د هغی زخمونه ډیر ژور وه،

موسٰی ډیر خوابدی سو او زیات یی وژړل څو ورځی پس یی وظیفه هم د لاسه ورکړه موسٰی چی به کله خپل نوی زیږیدلی کوچنی ته وکتل نو د میرمنی مرګ او د وظیفی د لاسه ورکول به ورفیاد سوه فکر به یی کوی چی دا ټول مصیبتونه ددی کوچنی سره موږ ته ورسیدل نو به یی د هغه څخه نفرط کوی همدا کوچنی یی د روزنی لپاره روزنتون ته وسپاری موسٰی به په میاشت کی یوار روزنتون ته ورتلی او خپل زوی به یی لیدی نور وخت به یی د نورو درو زامنو سره تیراوه کله چی دا کوچنی غټ سو نو پلار به یی ډیر یادیده خو پلار به یی هیڅ وخت نه ور سره تیروی ده چی به خپل نور ورونه د پلار سره لیدل نو ډیره به خوابدی سو پلار به یی هغو ته د بازی شیان راوړل خو ده ته به یی هیڅ هم نه راوړل دده پلار او نورو ورونو ته زیات درد راتلی او هغو ته به یی ډیر بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتل کله کله به یی د ورونو ښځه د بازی شیان په زور اخیستل او د هغو سره به یی جنګ کوی د هغه ښځه ډیر شوخ هلک جوړ سو د هر څه ضد چی به یی وکی هغه کار به یی هتماً کوی که څه هم زیات خطر به وو پکښی د پلار لخوا پر ایښوول سوی نوم ښځه یی زیات بد راتلل او ټولو ته به یی ویل چی زما نوم وصال دی که چا په بل نامه ورته ویلی وای هغه به یی ښه ټینګ وډبوی،

د وصال مشر ورور په یو کمپنی کی کار کوی وصال او هغه به یو څه سره جوړ وه او وصال د هغه ډیر احترام کوی هغه به وصال ته ویل چی زما سره کمپنی ته ځه یو کار به زده کړی هلته وصال د هغه خبره ومنل او د هغه سره کمپنی ته تلی هلته به وصال کله کله د کمپنی مشر ته چای او نور شیان هم وروړل د کمپنی مشر به فکر کاوه چی دا دلی خدمتګار دی نو ځکه به یی ډیر امرونه پر کول د وصال به هیڅ دا امرونه نه خوښیدل او ډیر به په قهر کیدی، وصال به کله کله مشر ورور ته هم دردمن سو چی زما ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د مزدور کار اخلی، یوه ورځ چی وصال ډیر خوابدی هم وو د کمپنی مشر ورناره کړه: ایی مزدوره چای راوړه، وصال هغه ته په درد درد وکتل او په درد یی ورته وویل: وبخښه زه مزدور نه یم بل وار په مزدور راته ونه وایی دلته زه د ورور سره د همکاری لپاره راغلم ستا د چوپړ لپاره نه، د کمپنی مشر ته هم ډیر درد ورغلی او وصال ته یی وویل: ستا نوم څه دی؟ وصال وویل: ولی د لور واده دی راسره کوی، د کمپنی مشر ته ډیر درد ورغلی او وصال ته یی وویل: چپ سه بی عقله ته زما د بوټ حیثیت نلری زه به ستا سره د خپلی لور واده درکوم ووځه زما د کمپنیه چی بیا دی ونه وینم، د کمپنی مشر چی کله د وصال حیثیت د خپل بوټ سره مشابه کړی نو وصال ته ډیر درد ورغلی او د دفتر څخه ووتی، کله چی ماښام پریوتی نو هغه د کمپنی د مشر خبری یی په ذهن کی راګرځیدلی چی هغه ویل:چپ سه بی عقله ته زما د بوټ حیثیت نلری زه به ستا سره د خپلی لور واده درکوم، وصال ټوله شپه خوب ونکی او همدا خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوب ته نه پرېښوی، سهار د ملګرو سره ناست وو هغو ورته وویل: وصاله نن لکه چې د ورور سره نه یې تللی او داسې معلومیږی چې ټوله شپه دی خوب نه دی کړی؟

وصال وویل: نه یاره د کمپنی مشر پسې واخیستم د هغه سره مې پروند جنګ وکی،

ملګرو یې وویل: نو پر څه شی مو جنګ وکی؟

وصال وویل: ماته یې وویل چې ایې مزدوره چای رواړه ما ویل زه ستا مزودر نه یم بل وار ماته په مزدور ونه وایې بیا یې راته وویل چې نوم دی څه شی دی ما ویل ولې د لور واده دی راسره کوی ډېر درد پر دی راغلی چې ویل یې چپ سه بې عقله ته زما د بوټ حیثیت نلری زه به ستا سره د خپلې لور واده درکوم،

ملګرو یې وخندل او ورته یې وویل: یاره وصاله تا هم عجبه ورته کړیده او داسې معلومیږی چې د همدی خبری د لاسه ټوله شپه نه یې بیده سوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: یا خوب می په دی خاطر نه دی کړی چی ده ماته وویل چی چپ سه بی عقله ته زما د بوټ حیثیت نلری زه به ستا سره د خپلی لور واده درکوم خوب پر دی خبره نه راتلی چی ما فکر کوی چی دده د لور سره به واده څنګه وکم؟

د وصال ملګرو وخندل او ویویل: نو څه کوی وصاله اوس په ربښتیا د هغه د لور سره واده کوی؟

وصال وویل: ملګرو تاسو ته زما ضد نه دی درمعلوم چی زه څومره ضدی یم او اوس ما دا ضد کړیدی چي زه به ددی کمپنی د مشر د لور سره واده هتماً کوم ددی لپاره نه چي هغه د خان لور ده ددی لپاره چی زه یی پلار ته دا ور وښایم چی زما حیثیت څه دی خو ملګرو تاسو به هم زما سره کمک کوی،

ملګرو یی وویل: وصاله موږ ستا ملګری یو په هر وخت کی مو یو د بل سره مرسته کړیده موږ ستا سره یو خو د لور په باره کی به یی معلومات د کومه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصال یو ملګرې وویل: وصاله زما ورور د هغو په کور کي موټړوان دی زه به یې د هغه څخه پوښتنه وکم هغه ماښام راځی کور ته زه به بیا سبا تاسو ته خبر درکم،

ټول ډیر خوشحاله سوه او د ملګرتیا لاس یې سره ټینګ کړ،

کله چي سبا سو نو وصال او ملګرې یې سره ناست وه خو هغه خبر ولا ملګری یې نه وو لا راغلی څو شیبې وروسته هغه راغلی او په خوشحالی یې ملګرو ته وویل: ملګرو د هغی معلومات می وکړل هغه یوه لور لری چي رخسار نومیږی تقریباً وای د شلو کالو ده خو ملګرو وای هغه په پلازمینه کي اوسیږی هلته درس وایی نو وصاله یاره ستا کار مشکله دی چي وسی،

وصال وویل: ملګرو مه ناهیلی کیږی مشکله ده خو ناممکینه نه ده تاسو پلازمینی ته د تلو اماده ګي ونیسی موږ به سبا روان سو،

ټولو وویل: سمده وصاله چی څنګه ستا خوښه وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی سبا سو نو تهول د پلازمینی په لور روان سول تر ساعتونو ساعتونو سفر وروسته پلازمینی ته ورسیدل او د نوموړی پوهنتون پوښتنه یی وکړه کله چي یی پوهنتون پیدا کړ نو هغه د پلازمینی تر ټولو ستر او سخت پوهنتون وو چي یوازی پکښی د هیواد لایقو شاګردانو درس وایه د وصال ملګرو وصال ته وویل: وصاله یاره په دی پوهنتون کی خو داخله ناممکینه ده چي تاته دی یی درکی، وصال وویل: ملګرو هغه ماته راپریږدی درځی اوس دلی یو نیږدی کور په کرایه ونیسو د اوسیدو لپاره،

وصال او ملګرو یی پوهنتون ته نیږدی یو کور د اوسیدو لپاره په کرایه ونیوی ډیر ستړی سوی وه نو ځکه ټول په خوارږه خوب بیده سول سهار وختي تر ټولو دمخه وصال د خوبه راکښینستی غوښتل یی چی دباندی وګوری چی څه وخت دی کله چي یی د کوټی کلکین خلاص کړ د سهارګاه شمال پری ښه ولګیدی هلته ورته ولاړ وو چي په دی وخت کی یی د دوی د کور پر مخامخ د همسایه و کورته پام سو د هغه کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو خونه کي یو ښکلی انجلی ناسته وه او ډیر په عاجزی یی لاس پورته کړی وو او دعاوی یی کولی وصال ته ددی دینداری او ښکلی نوراني خیهری ډیر خوند ورکړ او هلته یی څو شیبی ورته کتل،

کله چي لمر راپورته سو نو وصال او ملګرو یی ځان تیار کړ او د پوهنتون پر لور روان سول په لاره کي وصال هغه د سهارګاه دعاوو ولا انجلی ولیدل هغه چي به د هر غریب سره مخ کیدل نو یو څه اندازه پیسی به یی ورکولی وصال د هغی دا مهربانی ته مسکی سو په دی وخت کی یی ملګرو په هغی انجلی پسی ناره کړه: واه څومره مهربانه انجلی ده څومره بزرګه ده هاهاهاها ایی اغلی موږ ته هم یو څه راکه هاهاها، هغی انجلی تر شا ورته وکتل خو هیڅ یی ونه ویل بیرته روانه سوه، وصال خپلو ملګرو ته اشاره وکړه چي چپ سي هغوی هم چپ سول، کله چي پوهنتون ته راورسیدل نو د دروازه وان څخه یی پوښتنه وکړه چي دلته څنګه کولای سو داخله وکړو؟ دروازه وان وویل: ایا تاسو د خپل ولایت تر ټولو لایقه شخص یاست که د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ولایت د ښوونځی څخه په لومړی درجه فاریغه سوی یاست او د نمرو فیصدی مو تر 99% رسولی یی نو بیا دلته داخله درکوی که نه نه یی درکوی،

وصال وویل: زه ددی هیواد تر ټولو لایقه شخص یم خو ته یو بله طریقه راوښیه یو بله لار مار نلری چي داخله پکښی وکم؟

دروازه وان وویل: ایا ته د درس ویلو سره رښتیا هم ډیر مینه لری؟

وصال وویل: هو بیخی زیاته خو د همدی لپاره د خپل ولایت څخه دلته راغلو،

دروازه وان وویل: نو بیا داسی وکه چی د یو لوړ پوړی شخص یا والی واسیطه ورته وکه بیا دی داخلوی،

وصال او ملګرې یی فکر وکړ چي اوس څنګه لار ورته جوړه کړی چي په دی وخت کي د وصال یو ملګرې قسیم وویل: وصاله زما د پلار یو ملګرې د جمال په نامه دلته په پلارمینی کی غټه وظیفه لری هغه ته به ورسو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: احمقه اول دی ولی نه ویل؟

وصال او ملګرې یې د قسیم د پلار د ملګرې کورته ورغلل قسیم خپل د پلار ملګرې ته وویل: جمال کاکا موږ د خپل ولایت څخه دلته راغلی یو چې د پلازمینې په پوهنتون کې داخله وکو خو هغوی داخله نه راکوی ته کمک راسره وکه،

جمال وویل: زویه هغه ډیر سخت پوهنتون دی زه دومره درسره کولای سم چې یوازی تا هلته داخل کړم تاسو ټوله نسم کولای،

قسیم وویل: جمال کاکا موږ ټول داخل که موږ ټول سره ملګرې یو،

جمال وویل: نه یې سم کولای زویه بخښنه غواړم،

قسیم وویل: نو سمده جمال کاکا نو یوازی زما دا ملګرې وصال هلته داخل که ځکه دی یتیم دی او غریبان هم دی او د درس هم ډیر شوقی دی،

جمال وویل: سمده تاسی ورسی زه به زنګ ور ووهم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال هلته داخله واخیستل وصال هلته ګرځېدی چي هغه د دوی همسایه انجلی یی ولیدل ورغلی او هغی ته یی سلام ووایه هغی په ډیره مینه جواب ورکړ او بیا مصطفٰی ورته وویل: اغلی سهار چی زما ملګرو ستا سره کومه بی ادبي وکړه د هغو پر ځای زه بخښنه غواړم، هغي ورته وویل: نه هیڅ خبره نه ده زه نه یم پری خفه سوی،

وصال د هغي څخه ولاړی کله چي سبا سو او پوهنتون ته راغلی نو د صنف په لومړی چوکي کی کښینستی د صنف ډیر درس باندی وغمیدی او غوښتل یی چی دباندی ووځی نو کله چی به شاګردان صنف ته راننوتل ده به تر میز لاندی پښه ورته کښیښول او هغه به یی پر مخ وغورځوه استاذ څو واری بد بد ورته وکتل خو چي وصال بیا هغسی وکړه نو بیا یی د صنف څخه ویستی وصال په پوهنتون کي ګرځېدی چي د دوی همسایه انجلی یی بیا ولیدل چي د نورو شاګردانو سره یی درس وایه وصال په ډیره مینه هغی ته کتل د هغی هم وصال ته پام سو څو شیبی یی سره کتل چي بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړل، څو ورځې همداسې تیریدې وصال کوښښ کوی چې یو داسې څوک پیدا کړی چې ده ته د کمپنی د مشر د لور رخسار په اړه معلومات ورکی وصال چې به کله پوهنتون ته ننوتی نو تولـه ورځ به دباندی ګرځیدی صنف ته به نه ورتلی د دوی د همسایه انجلی به پکښې فکر وو یوه ورځ وصال په صنف کی ناست وو چي د پوهنتون ریس او نور استاذ هم په دی وخت کی تیریدل یو شاګرد د استاذ څخه پوښتنه وکړه: استاذ محترم موږ څنګه کولای سو چی د یوه څخه تر سلو پوری حساب جمع کړو؟ د پوهنتون ریس او نور استاذان په دی وخت کی ودریدل د صنف د ریاضی استاذ چی ددی پوښتنی جواب نه وو ور سره ډیر کوښښ یی وکی چی یو داسی طریقه پیدا کړی چی د شاګرد دی پوښتنی ته جواب ورکی ډیر وخت یی پر تخطه تیر کړ نورو استاذانو هم کوښښ کوی خو حل یی نکړ چی په دی وخت کی وصال لاس پورته کړ: استاذ استاذ زه یی ورته حل کم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذ چی کله شاته وکتل ویلیدل چی وصال لاس پورته کړیدی وپیپژندی چی هغه هلک دی چی ټوله ورځ به یی دباندی تیرول او شاګردانو ته به یی تر میز لاندی پښی ایښولی او غورځول به یی استاذ فکر وکړ چی دا ټمبل به یی څه حل کړی نو یی ورته وویل چی نه کښته که لاس دی،

استاذ بیا په تخطه اخته سو ډیر وخت یی تیر کړ خو بیا یی هم حل نکړ، وصال بیا لاس پورته کړ او وبویل: استاذه زه یی ورته حل کم؟

استاذ چی کله شاته وکتل نو ویلیدل چی بیا وصال لاس پورته کړیدی استاذ بیا ورته وویل: نه کښته که لاس مه یی حلوی؟

استاذ بیا په تخطه اخته سو تخطه یی ټوله ډکه کړل خو سوال یی حل نکړ تخطه یوار خرابه کی بیا هغه ډکه سی دی یی بیا پاکه کړی خو سوال تر پایه نسو حل په دی وخت کی وصال بیا لاس پورته کړ: استاذه زه یی حل کم ورته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذ ته چې ډېر درد هم ورغلی وو په درد يې وصال ته وويل: ووځه د صنفه څخه بې ادبه ته به يې څه حل کړې ټمبله په هيڅ شي پوهيږې نه وايي چې زه يې حل کم دا د کوچنيانو کار نه دی ما په رياضي کې ماسټري کړيده په کلونو کلونو مې استاذي کړيده نه يې سم حلولای نو ته به يې څنګه حل کې؟

وصال د صنف څخه ووتی او استاذ بيا په تخطه اخته سو تر څو چې سوال حل کړي خو بيا يې هم ونسوای کولای څو شيبې وروسته وصال تر کلکين سر راوايستی او په لوړ اواز يې وويل: استاذه زه يې ورته حل کړم؟ په دې سره په ټول صنف کې خنداوې شروع سوې استاذ په درد سره ټولو ته وويل: چپ سو مه خاندئ بې ادبو، ټول چپ سول په دې وخت کې د پوهنتون ريس صنف ته ننوتی او استاذ ته يې وويل: استاذه ستا چې نه دی زده هغه هلک ته خو موقع ورکه چې حل يې کړي ورته هغه د څه وخت راهيسې درته وايي چې زه يې ورته حل کم زه يې ورته حل کم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاذ وویل: ریس صاحب دا شاګرد زه پیژنم ډیر تمبل دی ټوله ورځ د صنف څخه دباندی تیره کړی دی به یی څنګه حل کړی؟

د پوهنتون ریس وویل: استاذه موقع خو ورکه چی دی یی حلولای سی او که نه،

استاذ وویل: سمده ریس صاحب زه به موقع ورکم خو ته به یی خپله ووینی چی دی څومره تمبل دی،

استاذ او ریس دواړو وصال ته ورناره کړه: راسه ورته حل یی کړه،

وصال هم صنف ته راغلی استاذ هغه ته مارکر ورکړ او ورته یی وویل چی ورسه حل یی که وصال هم تخطی ته ودریدی او په دوو دقیقو کی یی n(n+1)/2=n فارمول ولیکی او بیا یی وویل: موږ کولای سو چی د یو څخه تر سلو عددونه ددی فارمول له لاری حل کړو یا هم په بله طریقه داسی چی اول د 1 عدد د اخیری د 100 د عدد سره جمع کوو چي مجمعه یی 101 راوځی او بیا دا حاصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مینځنی عدد چي 50 دی کی ضربوو چي په دواړو طریقو کی حاصل یعنی د یو څخه تر سلو پوری د عددونو مجمعه چی څومره کیږی 5050 راځی،

کله چی وصال دا سوال حل کړ استاذ ریس شاګردان او نور استاذان ډیر حیران سول او تر څو شیبو حیرانتیا وروسته د پوهنتون ریس وصال ته وکتل او پر هغه یی چکچکی وکړی ټولو استاذانو او شاګردانو چکچکی او شپیلکیان شروع کړل او ټول ډیر خوشحاله سول،

د پوهنتون ریس وویل: شاباس په داسی محصلینو موږ ویاړو لیری نه ده چي ته به ددی پوهنتون غوره محصل ونومول سی شاباس،

کله چی سبا وصال صنف ته راغلی نو صنف بیا خوند نه ورکوی نو بیا د صنف څخه ووتی په پوهنتون کی ګرځیدی څه لیری هاخواته د وصال همسایه انجلی او څو نورو ملګرې سره ناست وی د وصال د همسایه انجلی سره ناستو انجونو وویل: هغه وګوری څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی عقل دی ډیر لوړ استعداد لری خو د هغه څخه هیڅ ګټه نه اخلی او ټوله ورځ د صنف دباندی ګرځی،

د وصال همسایه انجلی خپلو ملګرو ته وویل: تاسو ته دده استعداد څه معلوم دی؟

هغو وویل: ایا ته د تیری ورځی د حیرانونکی پیښی نه یی خبره؟

هغی وویل: نه نه یم خبره څه پیښه وه؟

ملګرو یی وویل: دی هلک پروند داسی کار وکړ چی ټول استاذان، محصلین او د پوهنتون ریس ورته هک حیران سول کوم سوال چی ماسټر او تجریبناکه استاذ په ساعتونو ساعتونو نکړ حل هغه ده په دوو دقیقو کی حل کړ او پوهیړی مدیر صاحب څه ورته وویل و دی هلک ته یی وویل چی ته به د پوهنتون غوره شاګرد ډیر ژر جوړ سی،

د وصال همسایه انجلی وپوښتل: نو چي دی دومره لایقه دی نو بیا ولی صنف ته نه ځی د څه لپاره دلته راغلی دی نو چي درس نه وایی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو یی وویل: نه پوهیږو چی ولی ته ورسه پوښتنه ځنی وکه چی دی څه درته وایی؟

د وصال همسایه انجلی ورغلل سلام یی ورته ووایه او د وصال څخه یی وپوښتل: خبره سوم چي تیره ورځ دی په صنف کی هغه سوال حل کړ چی ماسټر استاذانو نسوای حل کولای ته استعداد لری نو بیا درس ولی نه وایی؟

وصال وویل: ایی اغلی زه هیڅ استعداد نلرم او نه هم زه دلته د درس لپاره راغلی یم زه د یو بل کار لپاره راغلی یم دلته،

د وصال همسایه ملګرې وویل: د کوم کار لپاره؟

وصال وویل: پریږده یی ته یی څه کوی؟

د وصال همسایه انجلی وویل: کیدای سی زه مرسته در سره وکم،

وصال خوشحاله سو او هغی ته یی وویل: سمده درته وایم خو وعده وکه چي بل چاته به نه وایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغی وعده وکړه چی چاته به نه وایی،

وصال وویل: زه دلته د یوی انجلی لپاره راغلی یم د هغی پلار ماته پیغور راکړی وو چي ته زما د بوټ حیثیت نلری نو زما د لور سره د واده خبری کوی زه غواړم چی د هغی سره جعلی مینه شروع کم او بیا جعلی واده ور سره وکم د هغی پلار ته دا ثابته کم چی زه څوک یم زه د همدی ضد د پوره کولو لپاره راغلی یم،

هغي وپوښتل: د هغي پلار څه کار کوی؟

وصال وویل: د هغي پلار د ټوکرانو کمپنی لری،

هغه حیرانه سوه او وصال ته یی وویل: د هغه نوم او د هغه د لور نوم څه شی دی؟

وصال وویل: دی ظفر خان نومیږی او لور یی رخسار نومیږی،

همسایه انجلی یی وویل: تا د هغی په باره کی دا دومره معلومات د کمه کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: ته دا پرېږده ته راته ووایه چی ته هغه پیژنی؟

همسایه انجلی یی وویل: هو پیژنم یی هغه زما ملګرې هم ده،

وصال ډېر خوشحاله سو او هغي ته یی وویل: هیله کوم هغه ماته راوښیه ایا زما سره کمک کوی تر څو زه خپل ضد پوره کم؟

همسایه انجلی یی وویل: هو کوم یی خو په یوه شرط ووایه قبول دی دی؟

وصال وویل: هو زما ستا هر شرط قبول دی،

همسایه انجلی یی وویل: زما شرط ډیر سخت دی ووایه منی یی؟

وصال وویل: هو منم یی ماته هیڅ کار هم نه دی سخت،

همسایه انجلی یی وویل: ته به هر وخت پوهنتون ته پر وخت راځی او تر رخصتیه پوری به په صنف کی یی د شپی به د ملګرو سره بانډارونه نه وی ستاسو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمیسټر ختمیدو ته او امتحان ته یوه میاشتی پاتی ده ته به په صنف کی اول نمره ګی نیسئ که دوهم لا راغلی نو کمک دی ولاړی هیڅ کمک بیا نه در سره کوم،

وصال وویل: سمده اغلی ستا شرط ماته قبول دی خو ته وعده راسره وکه چي ته به بیا زما سره کمک کوی،

همسایه انجلی یی وویل: سمده زه وعده در سره کوم چی ته خپل شرط پوره کړی زه به هم ستا سره کمک وکم،

وصال وویل: مننه اغلۍ او ربښتیا ما و تا خو نومونه لا نه سره وویل زما نوم وصال دی او ستا نوم اغلۍ؟

همسایه انجلی یی وویل: ماته ټول په کور کی شبانه وایی،

وصال وویل: ستاسو په لیدو خوشحاله سوم اغلۍ شبانی،

شبانی وویل: زه هم ښاغلی وصاله د اوس لپاره د خدای په امان ښه وخت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی سبا سو نو سهار وختی چی لا شپه وه شبانی عبادت کاوه چي دباندی یی د موټرسیکل ږغ واوریدی کله چي دې په کلکین کی ورته وکتل نو ویلیدل چي د وصال د پوهنتون بسته په اوږه کی ده او پوهنتون ته روان دی شبانه موسکۍ سوه،

صنف ته تر ټول اول وصال راغلی وو ټول حیران وه ورته ټوله ورځ یي په صنف کی تیره کړه او درس ته یی سم غوږ نیولی وو، د شبانی او نورو ملګرو یی د وصال د صنف وخواته پام وو چی ایا وصال اوس راوځی او کنه خو نه راووتی کله چی رخصتی سوه نو تر ټولو اخیر وصال راووتی د صنف څخه کله چی شبانی ته نیږدی راغلی نو سلام یی ورته وکړ او ورته یی وویل: دا دی اغلۍ شبانی زه خو ستا شرط پر ځای کوم،

شبانی وویل: ونیسه ادامه ورکه او اول نمره ګی ونیسه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال د سمیسټر تر پایه ډیر کوښښ وکړ او د ټول صنف اول نمره سو کله چی د امتحان نتایج معلوم سوه لومړی شبانی هغه وکتل نو د وصال نوم یی لومړی پکښی ولیدی خوشحاله سوه او وصال په طرف روانه سوه، وصال ته په پوهنتون کی ټولو مبارکی ورکول او ملګرې یی هم ډیر خوشحاله وه کله چی وصال شبانه ولیدل نو د هغی پر طرف ور رهی سو کله چی شبانی ته ورسیدی نو شبانی ورته د اول نمره ګی مبارکی وویله، وصال تری مننه او وکړه او ورته یی وویل: شبانی ما خو خپل شرط پوره کی اوس دی ته هم شرط پوره کړه سمده؟

شبانه موسکۍ سوه او ویویل: سمده سبا به زه هم خپل شرط پر ځای کړم،

وصال تری مننه وکړه، شبانه ددی په اړه فکرمنه وه چی دا به د وصال سره څنګه مرسته وکړی،

کله چی سهار سو نو وصال د پوهنتون ومخته په دی تمه ولاړ وو چي شبانه به کله راسی او دی به د رخسار

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره معرفی کړی، څو شیبی وروسته شبانه معلومه سوه کله چی وصال ته را ورسیدل نو وصال ورته په بی صبری وویل: شبانی چیری وې زه تاته د څه وخت راهیسی په تمه وم،

شبانی وویل: را روانه وم په کور کی می کارونه څه زیات وه نو په دی خاطر وځنډیدم،

وصال وویل: شبانی اوس نو هغه د ظفر خان لور رخسار راوښیه،

شبانی وویل: درښووم یی خو هو زما نوم به نه ور یادوی ځکه چی زما د هغی سره خوا بده ده،

وصال خفه غوندی سو او ویویل: ازا سمده نه دی ور ښووم خو نو یی راوښیه،

شبانی د پوهنتون خواته یوی انجلی ته چی هلته ولاړه وه اشاره وکړه او وصال ته یی وویل: هغه انجلی وینی؟

وصال وویل: هغه سره کالی چی یی اغوستی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبانی وویل: هو هم هغه ستا رخسار ده نور ته پوه سوی او هغه پوه سوه که واده ور سره کوی که یی د پلار جایداد خپلوی ستا خوښه،

وصال وویل: مننه چی راودیښوول،

وصال خپلو ملګرو ته وویل: ملګرو زموږ او ستاسو مقصد هغه سورکالي انجلی ده هغه د هغه مغروره خان لور ده ته ورته وګوره هغسی د پلار په رکم مغروره ولاړه ده ته ورته ګوره چي ځنګه یی دا مغروری ورختموم،

وصال د هغی انجلی وخواته ور رهی سو هغه د نورو درو انجونو سره ولاړه وه وصال ورغلی او سلام یی ورته ووایه هغو وعلیکم کړ او بیا یی وصال ته وویل: مبارکی درته وایو جی تاسو په صنف کی اول نمره سواست،

وصال د هغو څخه مننه وکړه او بیا هغو ځانونه ورته معرفی کړه یوې وویل: زه شبنم نومیږم دا نور زما ملګرې شهناز، فروین، رخسار نومیږی، وصال هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ځان ورته معرفي کړ خو هغو وويل: ستا معرفيت ته اړتيا نسته دا ټول پوهنتون تا پيژني کله چې تا پخپل صنف کې هغه سوال حل کړ او بيا دې اول نمره ګی تر لاسه کړه ډير ژر دی ترقی وکړه،

وصال د هغو څخه مننه وکړه،

شبنم، فروین او شهناز رخسار ته وویل: رخسار موږ ځو د صنف وخت مو دی ته او ښاغلی وصال بانډار سره وکړی، هغو د وصال او رخسار څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړی رخسار او وصال کرار کرار په قدم شروع وکړه رخسار وصال ته وویل: ښاغلی وصاله تاسو راته ویلای سی چې ستاسو د کامیابی راز په څه کی دی؟

وصال موسکی‌ٍ سو او ویویل: ددی تر شا هیڅ کوم راز نسته بس سوال وو ذهن می یو څه سره وجنګوی او حل می کی نور څه نه،

رخسار وویل: که ددی تر شا څه نه وو نه بیا دا د صنف اول نمره ګی مو بیا څنګه تر لاسه کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: ددی تر شا یو څه سته زه یو چا ورته وهڅولم او پر ما یی ټینګار وکړ چي باید اول نمره ګی تر لاسه کړم،

وصال او رخسار تر ډیر بانډار وروسته سره ولاړل د دوی دوو ملاقاتونه همداسی جاری وه تر دی پوری چی دوی دواړه نیږدی ملګرې سول سره رخسار په وصال ډیر باور پیدا کړ، کله چی شبانی پر وصال د سهار وختی د راکښینستو شرط ایښی وو نو هغه د وصال عادت سو او هر سهار وختی به راکښینستی لومړی به د کلکین وخواته ولاړی هلته به یی ولیدل چی شبانه په عبادت اخته وی وصال به موسکۍ سو او د شبانی عبادت او دیندوستی به ډیر خوند ورکړ

وصال کوښښ کاوه چی رخسار ژر ځانته نیږدی کړی د رخسار هم د وصال سره مینه پیدا سوی وه د ډیر وخت وروسته وصال تلواری سو نو یی رخسار ته وویل: رخسار زه غواړم تاته یو څه ووایم،

رخسار وویل: هو مهربانی ووایه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: رخسار زه فکرجن یم چی څنګه او د کمه ځایه یی درته ووایم؟

رخسار پوهیده چی وصال ورته د مینی وړاندیز کوی نو یی ورته وویل: وصال هر څه چي وایی په سړه سینه او بیله ویری یی ووایه،

وصال وویل: رخسار زه سسسستا سسسره میبینه کوم،

رخسار موسکی سوه او وصال ته یی وویل: وصال زه هم ستا سره مینه کوم د کومي ورځی نه چی می ته لیدلی یی درباندی مینه سوی یم خو ویلای می نسوای درته،

وصال په ظاهره ډیر خوشحاله سو ځکه چی دی خپل مقصد ته ورسیدی سهار د وخته یي د شبانی د کور دروازه ور وټکول کله چي شبانی دروازه ور خلاصه کړه نو وصال هغي ته متایی ورکړه او ورته یی وویل: مننه مننه مننه اغلی شبانی ستا په مرسته نن زه خپل مقصد ته ورسیدم ما هغی ته د مینی وړاندیز وکی او هغی ومنی اوس به نو زه خپل مقصد ته ورسیږم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی وصال دا وویل نو شبانی په ډیره غوسه سره مټایان بیرته د وصال په لاس کی کښېښول او ورته یی وویل: واخله دا مټایان دی زه یی نه غواړم او ووځه زما د کوره چي بیا رانسی،

وصال حیران سو او شبانی ته یی وویل: څه پیښه ده اغلی خیریت دی،

شبانی وویل: هو خیریت دی خو بس ووځه زما د کوره د یوی مظلومی انجلی په احساساتو لوبی کوی او خپل مقصد ته ځان رسوی دا ستا نارینتوب سو ما خو در سره ددی لپاره مرسته وکړه چي ته به د خپل دی چټل مقصد څخه واوړی ووځه زما د کوره چي بیا دی دا مخ ماته راښکاره نه کړی،

وصال په حیرانی د شبانی د کوره ووتی او په خپله لاره ولاړی کله چي ماښام سو نو وصال پر کټ پروت وو او د شبانی خبری یی په ذهن کي ګرځیدلی تر سهار یی خوب ونه کړ کله چي سهارګاه سوه نو دباندی د کلکین وخواته رهی سو تر څو شبانه ووینی چی ویکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو شبانه بیا په عبادت بوخته وه وصال د هغی وخواته موسکۍ سو، کله چی پوهنتون ته ولاړی نو په لاره کي شبانه هم پوهنتون ته روانه وه دواړه یو ځای پوهنتون ته ورسیدل کله چي پوهنتون ته داخل سوه نو رخسار د پوهنتون په دروازه کی ولاړه چي وصال یی ولیدی نو ژر د هغه وخواته ورغلل او ورته یی وویل: وصال ته چیری وی تر اوسه زه تاته دا څو ساعته کیږ.ی انتظار وم، شبانی دا خبری واوریدی او د وصال طرف ته یی خفه غوندی وکتل وصال هم خفه غوندی د هغی وخواته وکتل او بیا وصال رخسار ته وویل: مصروفه وم نو په دی خاطر ناوخته راغلم،

رخسار وویل: وصال ته وګوره ما تاته څه شی راوړیدی؟

وصال وویل: څه؟

رخسار وویل: ما درته خوږ.ی جلبۍ راوړیدی سهار می په خپلو لاسو پخي کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: وبخښه رخسار زما ستونی خوږېږی زه یی نه خورم، وصال خپلی سترګی په شبانی کی ښخی کړی وی چي مخته روانه وه کله چی وصال رخسار ته منفی جواب ورکړ نو شبانه ودریدل او بیا خفه غوندی یی د وصال خواته وکتل او بیا صنف ته ولاړه، څو وخت همداسی تیر سو کله چی به وصال او رخسار سره مخ سوه نو وصال به د هغي سره سمی خبری نه کولی او نه به یی هم د هغي موبایل ته جواب ورکوی یوه ورځ وصال په پارک کی یوازی ناست وو شاته یی شبانه هم ناست وه شبانی وصال لیدی خو وصال هغه نه لیدل چي په دی وخت کی رخسار راغله او وصال ته یی وویل: وصال څه پیښه ده دا څو ورځی کیږی نه سمه خبره راسره کوی نه می موبایل ته جواب وایی اخیر ولی؟

وصال رخسار ته وویل: رخسار زه غواړم تاته یو څه ووایم،

رخسار وویل: ووایه څه وایی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: رخسار زه ستا سره مینه نکوم،

رخسار حیرانه سوه شبانه چي د دوی خبرو ته یی غوږ نیولی وو هم حیرانه سوه او بیا رخسار وویل: وصال دا ته څه وایی خو تا راته وویل چی ته زما سره ډیره مینه کوی،

وصال وویل: هغه ټول درواغ وه ما د ملګرو سره شرط تړلی وو چی زه به تاته د مینی وایم او ستا سره به د مسخرو مینه او واده کوم؟

رخسار په ژړا سوه او وصال ته یی وویل: او تر واده وروسته دی پریښوولم اوه؟

وصال وویل: هو،

رخسار ډیره غوسه سوه او وصال یی ټینګ پر مخ په چپلاخه ووهلی او ځنی ولاړه وصال پر مخ لاس نیولی وو چي په دی وخت کي یی شبانی ته پام سو هغه هم په غوسه وه او بیا ولاړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصال مینه د شبانی سره پیدا سوی وه نو ځکه یی رخسار ته رښتیا وویل چی دی د هغی سره مینه نه کوی وصال به هره ورځ کوښښ کوی چی د شبانی څخه بخښنه وغواړی خو شبانی به دده خبره نه اوریدل او ځنی ولاړه به وصال ډیر پریشانه وو درس ته یی هم زړه نه کیدی شبانی ته یی ملګرو وویل: شبانی ته ولی هغه ته بخښنه نه کوی هغه د څه وخت راهیسی بخښنه در څخه غواړی او ته پوهیږی دی یو واری بیا د پخوا پخیر سویدی چی صنف ته نه ځی او ټوله ورځ تاته ګوری او غمګین وی شبانی یوه خبره درته وکم؟ شبانی وویل هو ویکه، ملګری یی وویل: شبانی ته پوهیږی چي ده هغی بلی انجلی ته رښتیا ولی وویل چی دی د هغی سره مینه نکوی؟

شبانی ورته وویل: نه ولی؟

ملګری یی وویل: شبانی ځکه چي وصال ستا سره مینه کوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبانه حیرانه سوه او د ملګرو څخه ولاړه کله چې
ماښام سو شبانه پر بستر وه خو خوب نه ورتلی او د
ملګرو دا خبره یې په ذهن کی ګرځیدل چې ویل یې
وصال ستا سره مینه کوی د وصال زیاتی بخښنی یې
هم په ذهن کی ګرځیدلی چې هغه به هره ورځ ددې
څخه په ډیره مینه بخښني غوښتلی، شبانی همدا فکرونه
کول چې په دی وخت کی د کلکین لخوا څخه یو چا
ددی کوټی ته یو خط راوغورځوی شبانه ژر ولاړه
سوه او دباندی یې وکتل خو څوک یې ونه لیدل کله چې
یې د وصال د کوټی وخواته وکتل ګروف لګیدی چې
بیا ژر مړ کړای سو شبانه پوه سوه چې دا خط وصال
ورته غورځولی دی کله چې شبانی خط خلاص کړ نو
ویکتل چې لیکلی یی وه: السلام علیکم شبانی زه پر
خپلو کړنو ډیر پښیمانه یم تل می خپل ضد ته توجو
کړی ده او هغه راته هر څه وو خو په دی نه پوهیدم
چې په دی سره به د یو چا زړه مات سی یو چا ته به
غم ورسیږی د هغو احساسات به زخمی سی په دی نه
پوهیدم خو تا ماته هر څه را زده کړه اوس ما ته تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه مهم د یو چا مینه ده د یو چا احساسات دی د یو چا زړه دی ما رخسار ته ټول رښتیا وویل اوس نو ماته بخښنه وکړه په راتلونکی کی به بیا داسی تیروتنه ونه کړم او ته پوهیږی چي زه ولی ستا بخښنی ته بیتابه یم ځکه چي زه ستا سره مینه کوم هو شبانی ستا ښکلو اخلاقو، ستا حسن، ستا ښو خبرو زما زړه ګټلی دی زما په زړه کی تا یو لوی ځای نیولی دی زه ستا سره ډیره مینه کوم بیله تا ژوند نسم کولای سبا زه ستا څخه ددی جواب غواړم په درنښت: ستا وصال،

کله چی شبانی دا خط ووایه نو ډیره حیرانه سوه او وروسته یی مسکا پر مخ خواره سوه،

کله چی سهار سو نو شبانه چي به په کمه لار پوهنتون ته تلل وصال هلته ورته ناست وو خو ددی واری شبانه پر بله لار ولاړل چي پر هغه لار یوازی موټران تلل ګنه ګونه به هم نه وه، وصال پر مخکینی لار شبانی ته انتظار وو خو هغه نه راغلل څه وخت چی تیر سو وصال د شبانی د ملګرو څخه پوښتنه وکړه چي شبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه سول هغو ورته وویل چي هغه خو پر هغه بل سړک ولاړه، وصال هم پسی ور وځغستل تر ډیر مزل وروسته شبانی ته ورسیدی هغی ته یی سلام ووایه خو شبانی څه نه ورته ویل وصال په سټړی اواز ورته وویل: شبانی خط دی ووایه؟ اوس نو جواب راکه،

شبانه خپل ضد نیولی وه وصال ته یی په غوسه وویل: هیله کوم ما یوازی پریږده زه نه غواړم ستا سره خبری وکم،

وصال وویل: شبانی ما خو بخښنه در څخه وغوښته رخسار ته می هم رښتیا وویل او تا خو ولیدم چی څه ټینګه چکه یی ووهلم ستا څخه می څو واری هم بخښنه وغوښته نو بیا ته ولی تر اوسه غوسه یی راته اخیر څه خبره ده؟

شبانی وویل: وصال ما درته وویل چی ما یوازی پریږده زه نه غواړم چي ستا سره خبری وکړم هیله کوم ما یوازی پریږده، په تګ تګ کی وصال ودریدی او شبانه مخکی ولاړه څو شیبی وروسته شبانی د شا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له طرفه یو د تکر ږغ واوریدی چي شاته یی وکتل نو ویلیدل چي وصال موټر وهلی دی او په وینو کی لت پت پروت دی او لاس یی د شبانی طرف ته نیولی دی شبانی چي کله دا حالت ولیدی نو د ډیره وحمه ګونګه سوه او د وصال و طرف ته یی ور وځغستل او هغه یی راپورته کړ او چیغی یی کړی پر او د کمک ناری یی وهلی چي څو شیبی وروسته یو موټر راغلی او وصال یی موټر ته پورته کړ د روغتون پر طرف رهی سول شبانی د وصال سر په خپل غیږ کی کښیښوی او هغه یی بیداره کاوه چي بی سده نسی که نه نو شاک ته به ولاړ سی او تر روغتونه پوری یی د وصال وصال بیداره سه وصال وصال بیداره سه ناری پر وهلی تر څو چی روغتون را ورسیدی نو ډاکټرانو ژر هغه بستر کړ او پانسمان یی ورته وکړ شبانی د عملیات خانی ومخته انتظار ورته کاوه،

شبانی د عملیات خونی ومخته ډیر انتظار ورته وکړ بیا یی د ډیره غمه پلار ته زنګ ووهی کله چی پلار تلیفون ته جواب ووایی نو د شبانی د ژړا ږغ یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوریدی نو ویویل: لوری لوری څه پیښه ده خیریت دی څه خبره ده، شبانی په ژړا وویل: هو بابا خیریت دی، پلار یی وویل: لوری څه خبره ده ته ماته ووایی زه به هم دا اوس در روان سم که کومه ستونزه وی؟ شبانی په ژړا وویل: بابا زما یو ملګری موټر ووهلی او ډیر یی زخمی کړ، پلار یی وویل: لوری ته مه ژاړه خدای به یی روغ کړی زه همدا اوس د هغه ځای تکړه ډاکټرانو ته تلیفون کوم چي هلته ژر تر ژر ځان در ورسوی، شبانی وویل: سمده بابا خدای په امان،

تر څو ساعتو وروسته ډاکټران د عملیات خونی څخه راووتل شبانه ژر ورغله او د هغو څخه یی پوښتنه وکړه: ډاکټر صاحب ډاکټر صاحب وصال څنګه دی؟

ډاکټر وویل: زخمونه یی ډیر ژور دی موږ اوس څه نسو ویلای؟

شبانه ډیره پریشانه سوه او ډاکټرانو ته یی وویل: ایا زه د هغه سره لیدلای سم؟

ډاکټر وویل: هو مهربانی ورسی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبانه د وصال عملیات خونی ته ورغلل او د هغه د کټ تر څنګ کښېنستل د هغه په مخ کی یی خپلی سترګی ښخی کړی او تر سترګو یی اوښکی د اوبو پڅیر روانی سوی د وصال لاس یی په لاس کی ونیوی او ښکُل یی کړ او د وصال د تیر ژوند خوښی یی په ذهن کی ګرځیدلی او بیا یی وویل: وصال تا خو زما څخه جواب غوښتی وو تا خو ماته د مینی وویل خو زما جواب دی نه واوریدی ته به زما جواب اوری زه تاته وایم چی زه هم ستا سره مینه کوم تر خپل ځان هم ډیره ستا څخه مخکی ما مینه در سره کول کچیری په تا اوس یو څه وسوه نو زه به هم خپل ځان ووژنم،

په دی وخت کی وصال په هوښ راغلی او د شبانی لاس یی ټینګ ونیوی او ښکُل یی کړ شبانی چی کله وکتل چی وصال په هوښ راغلی نو ډیره خوشحاله سوه وصال وویل: هي لیونی ستا ژوند زما لپاره ډیر مهم دی ځکه چي زه بیله تا ژوند نسم کولای ته زما ساه او زړه یی، وصال او شبانه ډیر سره خوشحاله سوه شبانی وصال پر تندی ښکُل کړ ډاکټرانو شبانی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: موږ خان صاحب را استولی یو که موږ ته کوم خدمت وی موږ درته حاضر یو او وصال باید دري ورځی دلته زموږ سره بستر یی تر څو یی په بنه ډول درملنه وسی، شبانی وویل: سمده ډاکټر صاحب وصال به تر درو ورځو پوری همدلته وی خو په یوه شرط چي ډوډی به زه ورکوم،

ډاکټرانو او وصال وخندل او بیا یی وویل: سمده چي څنګه ستاسو خوښه وی،

شبانی به هر سهار او ماښام وصال ته پخپلو لاسو ډوډی ورکول او د مینی خوږی خبری به یی کولی د روغتون په اخیری ورځ وصال د شبانی څخه پوښتنه وکړه: شبانی په هغه ورځ چی ډاکټرانو وویل چی موږ خان صاحب را استولی یو دا یی کوم خان ښوی خان صاحب څوک دی؟

شبانه موسکۍ سوه او وصال ته یی وویل: زما پلار دی کله چی ته په عملیات خونه کی وی ما می پلار ته تلیفون وکړ چی ملګری می موټر وهلی دی بیا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته وویل چی زه تر ټولو تکړه ډاکټرانو ته تلیفون کوم چی ژر تر ژره ځان در ورسوی،

وصال وویل: مننه شبانی چي زما لپاره دی دومره زیات تکلیف وکړ،

شبانی وویل: نه ما ستا لپاره نه بلکی د خپل ځان لپاره می تکلیف وکړ د خپلی مینی لپاره،

وصال وویل: ښه نو شبانی ما د خپل پلار سره څه وخت معرفی کوی چی زما و ستا د واده خبری ور سره وکم؟

شبانه موسکۍ سوه او ویویل: وصال زه به دی د خپل پلار سره معرفی کړم خو ته زما یو شرط منی؟

وصال وخندل او ویویل: شبانی! یو شرط نه ستا د لاسته راوړلو لپاره سلو شرطو ته هم تیار یم ووایه څه خبره ده؟

شبانی وویل: وصال مدیر صاحب تاته یو وخت ویلی وه چي ته به د پوهنتون غوره محصل جوړیږی زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړم چی ته دی مقام ته ځان ورسوی او زه په تا وویاړم،

وصال حیران سو او شبانی ته یی وویل: شبانی دا خو ډیره سخته ده ته خو پوهیږی چی زه دا نسم کولای،

شبانی وویل: زما لپاره هم نه؟

وصال وویل: ستا لپاره خو زه خپل ځان هم قربانولای سم خو دا ډیره سخته ده ته خو پوهیږی چی زموږ او ستاسو په پوهنتون کی د هیواد تر ټولو تکړه شاګردان دی نو زه به یی د هغو ټولو څخه څنګه ګټم؟

شبانی وویل: لکه څنګه چی دی په هغه ورځ هغه ناممکین سوال حل کړ همداسی زه ستا سره کمک او همکاری کوم،

وصال موسکی سو او ویویل: سمده ستا لپاره خو زه ځان هم وژلای سم،

شبانی وویل: چپ سه بل وار دا د مرګ خبری مکوه،

وصال وویل: سمده نه یی کوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال د غوره محصل د جوړیدو لپاره تیاری شروع کړ تړوله ورځ به یی په صنف کی تیرول او چی کله به رخصت سو نو شپانی به تر لاس ونیوی او کتابتون ته به یی بوتلی او هلته به یی ډیر کتابونه په مطالعه کړل د شپی به یی هم مطالعه کول د هیڅ سره به یی خبری نه کولی یوازی به یی خپل درسونه ویل او مطالعه به یی کول،

امتحانو ته لږ وخت پاتی وو وصال کوښښ کوی چي ډیره مطالعه وکړی شپانه هم د هغه سره په درسونو کی کمک کوی دا وو چی امتحانونه راورسیدل هر یو کوښښ کوی چی ښه سوالونه حل کړی وصال هم امتحانو کی کوښښ کاوه امتحانونه خلاص سول اعلان وسو چی یوه اونۍ وروسته به نتایج اعلان سی ټول ډیر پریشانه وه چي څووم مقام به یی ګټلی وی وصال هم په فکرو کی ډوب وو خو شپانی او ملګرو یی هغه ته ډاډګیرنه ورکول یوه اونۍ پای ته ورسیدل سهار وختی شپانی دعاوی کولی چی الله ﷻ وصال کامیاب او غوره محصل وبلل سی کله چي د شپانی دعاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصی سوی نو د پوهنتون پر لور رهی سول کله چي پوهنتون ته ورسیدل نو ویلیدل چي د پوهنتون پر یو دیوال موښتی نتایجو ته ټول محصلین ولاړ دی او خپل نتایج ګوری شبانی کتل چي د نتایجو لخوا څخه وصال خواشینی ددی وخواته را روان دی شبانه هم حیرانه سوه او پوه سوه چی وصال پاتی سویدی کله چي وصال شبانی ته ورسیدی نو شبانی ورته وویل: وصال! خیر دی حوصله وکه هیڅ خبره نه ده ته مه خوابدی کیږی موږ به خپل استقامت د لاسه نه ورکوو،وصال هیڅ هم نه ویل او خوابدی د شبانی ومخته ولاړ وو شبانی تری پوښتنه وکړه: وصال ته څووم مقام سوی وی او غوره محصل څوک سوی وو؟وصال په خواشینی ورته وویل: ورسه خپله یی وګوره زه نه یم خبر،شبانه د نتایجو وخواته ور روانه سوه کله چی نتایجو ته ورسیدل نو ویلیدل چي لومړی نوم او لومړی مقام ولا او غوره محصل وصال وو کله چي شبانی دا ولیدل نو ډیره حیرانه او خوشحاله سوه او د وصال پر طرف یی وځغستل او ویخندل وصال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خندل او کله چی وصال ته ورسیدل نو د هغه سره یی شخړه شروع کړه چی تا ولی ماته درواغ وویل وصال هم خندیدی او د شبانی شخړه یی کنټرولول ټول ډیر خوشحاله وه او وصال ته یی مبارکی ویلی دوی ورځی وروسته د فراغت مراسم وه وصال او شبانی او ملګرو یی هغه ته اماده ګی نیول شبانی وصال ته وویل: وصال! تا زما څخه یو غوښتنه کړی وه چی زه دی د خپل پلار سره معرفی کم او ما شرط ایښی وو چی ته به د غوره محصل مقام لاسته راوړی بیل دی زه د خپل پلار سره معرفی کوم تا زما شرط ومنی او هغه دی دا دی پوره کړ نو زه می خپل شرط پر ځای کوم زه می بابا ته تلیفون کوم چي ستا د فراغت مراسمو ته راسی د هغه وروسته به د واده خبری هم ور سره وکړو، وصال ډیره خوشحاله سو او د شبانی څخه یی مننه وکړه، شبانه موسکۍ سوه او ویویل: وصال ته چی زما بابا ووینی نو ډیر به حیران سی او هم به وویریږی هم،وصال موسکۍ سو او ویویل: ولی ستا بابا پیری دی چی ځنی وویریږم؟شبانه موسکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه او ویویل: هغه به بیا زه تا ووینم چی ځنګه ویریږی او که نه ما و تا هوایی ډګر ته پسی ورځو او هغه راولو، وصال وویل: سمده ته تلیفون ورته وکه چی هغه راځی او که نه او زما په باره کی ورته ووایه،شبانی وویل: سمده زه می بابا ته اوس تلیفون کوم،شبانی خپل پلار ته تلیفون وکړ کله چی هغه جواب ورکړ نو شبانی وویل: سلام بابا،پلار یی وویل: وعلیکم السلام لوری ځنګه یی ښه یی؟شبانی وویل: هو بابا زه ښه یم ته ځنګه یی؟پلار یی وویل: زه هم ښه یم لوری ته خو به ښه یی بیا خو به کوم مشکل نه وی؟شبانی وویل: نه نه بابا خیریت دی زه ډیره ښه یم او ډیره خوشحاله هم یم،پلار یی وویل: الله دی نوره هم خوشحاله لره لوری خو ته راته ووایه چی ته ولی نن دومره زیاته خوشحاله یی؟شبانی وویل: بابا چي یوه خبره درته وکړم ته خو به غوسه کیږی نه راته؟پلار یی وویل: نه نه لوری الله دی داسی نه کوی چی زه دی په تا غوسه کیږم ووایه څه خبره راته کوی؟شبانی وویل: بابا زه شرمیږم نسم ویلای درته؟پلار یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوری زه ستا پلار یم چې ماته ونه وایی نو چاته وایی ایا داسی خو به نه یی چی زوم دی راته پیدا کړی وی؟شبانه موسکۍ سوه او ویویل: هو بابا ما هم درته همدا خبره کول،پلار یی وخندل او ویویل: څوک دی دا بختور لوری چي زما شهزادګی یی د ژوند ملګری جوړول غواړی،شبانه موسکۍ سوه او ویویل: بابا هغه وصال نومیږی زموږ او ستاسو د وطن دی زما سره په پوهنتون کی دی او د پوهنتون تر ټولو غوره مقام یی تر لاسه کړ 2 ورځی وروسته یی د فراغت مراسم دی نو ته به راځی بابا،پلار یی وویل: ماشاءالله زه پوهیدم چی زما د لور په نصیب به یو تر ټولو غوره شخص وی خو لوری زما کارونه بیخی زیات دی زه نسم کولای چی درسم،شبانی وویل: بابا ایا تر ما تاته کاروبار مهم دی؟پلار یی وویل: دا ته څه وایی لوری زه به دا ټوله مال و دولت تر تا قربان کم ما ته تر تا مهم بل هیڅ نه دی لوری خو باور وکه لوری چی ډیر مصروف یم،شبانی وویل: بابا زه ستا یوه خبره هم نه منم ته به راځی که نه زه ستا سره خبری نه کوم،پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی موسکۍ سو او ویویل: سمده نو در به سم د خیره،شبانه موسکۍ سوه او ویویل: مننه بابا بس نو زه او ستا زوم سبا سهار تاته په هوایی ډګر کی انتظار کوو پخیر راسی بابا،

سهار سو د مرغانو اوازونه وه شبانه او وصال په میدان کی طیاری ته انتظار وه څو شیبی وروسته طیاره راورسیدل شبانه د خپل پلار لیدو ته په تمه وه وصال شبانی ته وویل: شبانی زموږ خو د بابا د ښه راغلاست لپاره د ګلانو امیل هم هیر سو زه ورځم راوړم یی ته همدلته د بابا په تمه سه،شبانی وویل: پریږده یی اوس به بابا راورسیږی،وصال وویل: نه نه باید یو امیل ور په غاړه کم ځکه زموږ اول ملاقات دی،شبانی وویل: نو سمده ورسه زه به دلته بابا ته انتظار سم،وصال ولاړی چی یو د ګلانو امیل د شبانی لپاره راوړی چی څو شیبی وروسته د شبانی پلار هم را ورسیدی شبانی د هغه سره روغبړ وکړ پلار یی وویل: لوری تا خو ویل چی ته او زوم می یو ځای راځی زما و ښه راغلاست نو زوم می ولی نه دی در

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره راغلی؟شبانی وویل: بابا هغه هم را سره راغلی
وو خو ستا د ښه راغلاست لپاره مو د ګلانو امیل هیر
سوی وو هغه پسی ولاړی راوړی یی،پلار یی موسکۍ
سو او ویویل: لوری دی ته څه اړتیا ده؟شبانی وویل:
بابا ما هم ورته وویل خو زوم دی نه منل ویل زما او
د بابا دی لومړی ملاقات دی باید په ښه ډول یی ښه
راغلاست ووایم،پلار یی موسکۍ سو او څو شیبی
وروسته د شبانی د پلار و شاته وصال را روان وو او
را ورسیدی وصال د شبانی پلار د شا له طرفه وینی
خو مخ یی نه لیدی چی په دی حال کی ورته راورسیدی
د شبانی هم ورته پام سو او پلار ته یی وویل بابا شاته
دی زوم ولاړ دی روغبړ ور سره وکه کله چی د شبانی
پلار مخ ور واړوی نو وصال او د شبانی د پلار دواړو
څخه لویه ناره وسوه او دواړه ډیر سره حیران سول
ځکه وصال ولیدل چی د شبانی پلار هم د هغی کمپنی
مالک وو په کومه کی چی ده یو وخت د ورور سره
کار کوی او ده د هغه مالک سره جنګ کړی وو د
شبانی پلار هم ولیدل چی دا هغه هلک دی چی ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپنی ښځه ایستلی وو وصال یواری د شبانی پلار ته وګوری او بیا شبانی ته وګوری فکر یی کاوه چی ده خو ددی خان لور رخسار ته جواب ورکړی وو او هغه خو هغه بله وه نو دا بیا ښځه دده لور سوه دواړو حیران حیران سره کتل چی په دی وخت کی ژر وصال د ګلانو امیل د شبانی و پلار ته ور په غاړه کړ او ژر یی لاس ور مچ کړ د شبانی پلار هغه امیل ژر د غاړی وکښی او ویغورځوی او شبانی ته یی وویل: رخسار لوری دا بی عقل او بی ادبه خو زه په ژوند ولاکه زوم کم ته نه یی خبره چی دا څومره بی عقل او بی ادبه انسان دی،شبانی وویل: بابا زه په ټولو خبره یم وصال ما ته ټوله کیسه کړیده،پلار یی حیران سو او ویویل: د خبریدا سره سره تا د واده لپاره دی انتخاب کړ؟شبانی وویل: بابا وصال اوس داسی نه دی هغه اوس سم سویدی،د شبانی پلار وویل: چی هر ښځګه وی خو زه دی نه زوم کوم،وصال ارام ولاړ وو هیڅ یی نه ویل شبانی وویل: بابا مور به په دی هکله پر ارامه خبری وکو سمده بابا؟پلار یی په غوسه ځنی روان سو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل موټر په طرف روان سو،شبانه وصال ته موسکۍ سوه وصال لا هم هلته هغسی حیران ولاړ وو شبانی وویل: وصال ما نه درته وویل چی ته به زما د بابا په لیدو ډیر حیران سی وصال لا هم هغسی ایښ پیښ ولاړ وو چی شبانی سره وښوروی او ورته یی وویل: وصال وصال؟وصال داسی را وغورځیدی لکه د خوبه چی وی او بیا یی شبانی ته وویل: دا څنګه امکان لری ستا نوم خو شبانه دی رخسار خو بله یوه وه چی زه یی په چپلاخه ووهلم ستا نوم خو شبانه دی اوه؟شبانی وویل: وصال ستا فیاد دی چی ما درته ویلی وه چی ما ته په کور کی ټوله بیله بابا په شبانه وای زما اصلی نوم رخسار دی،وصال په حیرانی وویل: نو هغه رخسار؟شبانی وویل: نو ولی په یوه نامه دوی انجونی نسی کیدلای د هغی نوم هم رخسار وو او زما دا هم خو ما تاته ځکه خپل اصلی نوم نه در وښوی که می دربښولی وای نو ته به اوس څنګه زما کیدلای او ستا ښځه به څنګه ښه انسان جوړیدای،وصال وویل: شبانی ستا بابا به هیڅکله ما نه کړی قبول ځکه چی هغه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه بیخی ډیر خوابدی دی،شبانی وویل: وصال په ما باور لری؟وصال وویل: تر ځان هم ډیر،شبانی وویل: نو دا کار ماته پریږده اوس راځه بابا په موټر کی راته انتظار دی زه به هر څه سم کم، وصال او شبانه هم موټر ته ور وختل وصال د ډیره شرمه د شبانی پلار ته کتلای نسی چی ورته وګوری هغه ډیر بد بد او په غوسه ورته وګوری د شبانی دوی دوو ته پام سو شبانی خپل پلار ته وویل: بابا ته ورته وګوره زوم دی څومره په مینه مینه درته ګوری خو یو ته یی چی بد بد ورته ګوری ته هم لږ په مینه ورته وګوره،پلار یی په غوسه شبانی ته وکتل او بیا یی مخ د شبانی څخه واړوی شبانی خپل پلار ټینګ په غیږ کی ونیوی د پلار یی هم غوسه ختمه سوه او د خپل لور په سر یی د شفقت لاس تیر کړ،کله چی ماښام سو رخسار خپل پلار ته د وصال د ښه والی په هکله ډیری خبری وکړی او د پلار زړه یی هم څه ناڅه نرم سو، سبا ته د وصال او رخسار د فارغت مراسم وه د هیواد لوی لوی چارواکی هم ورته راغلی وه مراسم پیل سول د غونډۍ ویاند وویل: ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلمنو او محصلینو ته ښه راغلاست وایو هیله ده چی پخیر به رارسیدلی یاست دوستانو زموږ نننی مراسم د هیواد په سطحه د یو لوړ مقامه پوهنتون د محصلینو فراغت ته ځانګړی سویدی په دی مراسمو کی به موږ ټولو فاریغه سوی محصلینو ته د هغوی د فراغت ډیپلومونه ورکړو دوهم او دریم مقام ولا محصلینو ته د پوهنتون د ریس لخوا او د کال د تر ټولو غوره محصل ته د هیواد د ولسمشر لخوا تحفی هم برابری سویدی دوستانو راځی نو په مراسمو به پیل وکړو لومړی یی هم د کال د غوره محصل څخه راپیلوی تاسو به وایست چی دا شخص څنګه او ولی د کال د تر ټولو غوره محصل وپیژندل سو راځی چی تاسو ته یی په اړه یو څه معلومات در کړم نوموړی محصل ځکه د کال غوره محصل وبلل سو چی نوموړی په لومړی کال لومړنی صنف او لومړی سمیسټر کی داسی یو سوال حل کړ چی لوی لوی استاذان ورته عاجزه پاته سوی وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی د پوهنتون څلور کلنه دوره په درو کالو کی وویل د درو سرو کلونو د نمرو سلنه یی تر ټولو محصلینو لوړه ده نو ځکه یی د غوره محصل مقام خپل کړیدی ستاسو په اند دا محصل به څوک وی؟ټولو محصلینو په یوه وار ناری کړی او ټولو یو ځای وویل: وصال! وصال!،ټولو ګډونوالو چکچکی کړی او ویاند په لوړ اواز وویل: بلکل همدا وصال زموږ د پوهنتون د تر ټولو د غوره محصل مقام ګټلی دی نوموړی ته بلنه ورکوو چي د سټیج و سر ته راسی او د هیواد د ریس جمهور څخه خپل ډیپلوم او جایزی تر لاسه کړی،کله چي وصال د سټیج و سر ته رالی نو د هیواد ریس جمهور هم را ولاړ سو تر څو نوموړی ته ډیپلوم او جایزی ورکړی وصال د ویاند په غوږ کي هغه ته یو خبره وکړه بیا ویاند وویل: ګډونوالو! زموږ د غوره محصل وصال یو غوښتنه ده نوموړی هیله لری چی ریس جمهور صاحب دی د نوموړی جایزه او ډیپلوم د هغه خوسر ظفر خان ته ورکړی او ظفر خان دی یی بیا خپل زوم ته ورکړی نو د وصال د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوسر څخه هیله کوو چي د سټیج سر ته راسی او د هیواد د ریس جمهور صاحب څخه دی خپل د زوم ډیپلوم تر لاسه او خپل زوم ته دی یی ورکړی،رخسار خپل پلار ته وکتل او موسکۍ سوه او پلار ته یی اشاره وکړه چی د سټیج و سرته ورسی، پلار یی هم ورلی او د هیواد د ریس جمهور څخه یی جایزه او ډیپلوم واخیستل او وصال ته یی ورکړل او په غیږ کی یی سره ونیول، ویاند وویل زموږ دوهم مقام ولا محصل ......... او دریم مقام چی یی ګټلی اغلۍ رخسار ظفر ده، ټولو فاریغه سوو محصلینو ته جایزی او ډیپلومونه ورکول سوه بیا ویاند وویل: اوس هم دوستانو د ټولو محصلینو له جملی څخه غوره محصل وصال ته بلنه ور کوو چي د سټیج ومخته راسی او د خپلی کامیابی په پاره تاسو ته وینا وکړی ښاغلې وصال؟وصال رالی او ویویل: السلام علیکم خدای دی وکی چي ټولو به روغ او جوړ یاست ستاسو ټولو میلمنو، والدینو، ملګرو او خپلوانو څخه نړی نړی مننه کوم چي زموږ سره مو په دی خوشحالی کی ګډون وکړ ویاند صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه کړی وه چي زه باید د خپل کامیابی راز ووایم نو زه به هم څه ناڅه ووایم تاسو به اوریدلی وی چي اولنو ویلی دی چي د هر کامیاب سړی تر شا د یوی ښځی لاس او همکاری وی زما د کامیابی راز هم زما کوژدنه ده زه چي کله په لومړۍ ځل دی پوهنتون ته رالم نو ما درسو او پوهنتون ته هیڅ پام نکوي ټوله ورځ به په عابثیاتو او ناکی کارو اخته وم زما کوژدنی زه درسو او پوهنتون ته تشویق کړم زه یی د بدی لاری څخه وسمی لاری ته را واړولم ماته یی ژوند او مینه را زده کړه ماته یی د خلکو سره کړه وړه را زده کړه وبه وایم چي په دي جایزی او مقام کی 99% سلنه ددی لاس او همکاری وه چي ما دا مقام تر لاسه کړ ددی جایزی اصلی حقداره همدا ده اغلۍ رخسار! زه به ستا دا احسان تر مرګه هم هیر نه کم اباده او سرلوړی دی وی زما کوژدن اغلۍ رخسار ظفر او ټولو ملګرو او محصلینو ته دی دا ورځ مبارک وی،وصال رخسار او پلار یی بیرته خپل وطن ته ستانه سول وصال خپل کور ته رالی او ټولو ورونو یی هغه ته مبارکی ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پلار یی هیڅ ورته کتلی هم نه دی وصال خپل جایزه پورته کړه او لیری یی وغورځول او تر کور ووتی دوی ورځی بعد رخسار زنګ ورته ووهلی او ورته یی وویل چی راسه د بابامی پکار یی وصال هم ورغلی تر روغبړ وروسته د رخسار پلار وویل: وصال ته اوس په کم کار اخته یی؟وصال وویل: بی کاره یم بابا،د رخسار پلار وویل: نو سبا چي ته زما د لور سره واده وکړي نو هغه به څنګه ساتی په داسی بیکاریو خو نه کیږی،وصال وویل: بابا زه به په رخسار د خپل زړه غوښی وخورم شپه و ورځ به پر ځان یوه کړم خو پری به نه ږدم چي د رخسار په ژوند کی د څه کمی راسی زه به رخسار ته د نړی ټولی خوشحالی ورکړم،د رخسار پلار وویل: وصاله په خوشحالیو او مینو د انسان نس نه مړیږی ته به تر څو پوری همداسی بیکاره ګرځی؟وصال وویل: بابا زه کوښښ کوم چي یو کاروبار شروع کم یا هم یو وظیفه ځانته پیدا کم،د رخسار پلار وویل: وصاله زویه زما لور خو ته د ژوند ملګرې ومنلی خو زه به دی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ومنم چي ته زما يو شرط ومنې،وصال وويل: څنګه شرط بابا؟د رخسار پلار وويل: نه ته يو وار ووايه ايا ته د رخسار د لاسته راوړلو لپاره زما دا شرط ته تيار يی او که نه؟وصال وويل: بابا زه د رخسار لپاره ځان هم وژلی سم ووايه ستا هر شرط زما قبول دی،د رخسار پلار وويل: وصاله کله چی ما ته اول ځل وليدلی نو ډيره کرکه می در څخه کيدل خو د خپل لور د خوشحاله کولو لپاره می ته ومنلی رخسار راته وويل چي ته اوس سم سوی يی پرمختګ ژر کولای سی لاسنيوی ته اړتيا لري زويه ما يو فيصله کړيده زه تاته د کاروبار د شروع کولو لپاره پيسی در کوم او يو کال وخت در کوم که تا په دی پيسو سره پرمختګ وکړ او کاروبار دی ځانته جوړ کړ نو د نوي کال په اوله ورځ به دی زه زوم ومنم او ستا و د رخسار کوزده به در وکم واده چي بيا تاسو هر وخت تاسو کوی هغه ستاسو خوښه ده او که چيری تا دا پيسی بايلی او پر ناحقه در څخه ولاړی نو بيا ستا و د رخسار واده ناممکينه دی ووايه ايا دا شرط دی قبول دی؟رخسار

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل چي پلار ددی فیصلی څخه منعه کړی کله چي پلار ته څه ویل نو پلار یی د خبرو څخه منعه کړه رخسار هم چپ سوه،وصال وویل: بابا زه ستا پیسو ته اړتیا نلرم زه غواړم خپل ځان په خپله راپورته کم،د رخسار پلار وویل: وصال زویه د کاروبار د شروع کولو لپاره پیسو ته اړتیا ده خو زه چي تا وینم ستا سره هیڅ پیسی نسته نو ته به کاروبار څنګه شروع کړي دا پیسی به ته صرف او صرف د رخسار په خاطر اخلی که دی داسی ونه کړل نو زه به پوه سم چي رخسار لور می تاته هیڅ ارزښت نه لري،وصال وویل: نه بابا داسی نه دی د رخسار ارزښت خو ما ته تر دا ټولی نړی هم زیات دی خو که چیری زه ستا څخه پیسی واخلم نو خلک به وایی چي د خان صاحب د لور سره یي په دی خپلوی جوړه کړه چي پیسي لری د پیسو لپاره یی دا هر څه وکړه،د رخسار پلار وویل: وصال زویه ایا ته دا فکر کوی چي ته زما د لور سره د پیسو لپاره واده کوی؟وصال وویل: نه بابا هیڅکله نه،د رخسار پلار وویل: نو زویه خلک پریږده چي هر څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایی هغه د هغو کار دی هغه دی نه دی اوریدلی چی وایی د ښار دروازی بندیږی خو د خلکو خولې نه،وصال وویل: خو بابا!د رخسار پلار وویل: وصاله زویه زه ستا یوه خبره هم بله نه اورم راځه زما کوټې ته چي پیسی درکم،د رخسار پلار وصال ته پیسی ورکړی او وصال د کاروبار د شروع کولو لپاره په فکر کی سو او د ملګرو څخه یی مشوری غوښتي بیا یی یو ملګري محمود ته وویل: محموده هغه ستاسو د کور سره د خوړو فابریکه اوس هم فعاله ده؟محمود وویل: وصاله هغه خو دا پنځه و شپږ کاله کیږی چي بنده سویده فایده یی نکول شیانو یی بازارمندنه نه درلوده او خاوند یی د پورو د لاسه بنده کړه بهرني هیواد تر دا ښه خواږه را استول زموږ هیواد ته نو ځکه دا فابریکی هیڅ ګټه نه کول خو ستا د هغي فابریکې سره څه کار دی؟وصال وویل: غواړم هغه زه رانیسم او بیا یی فعاله کم،محمود وویل: وصاله دا ته څه وایی هغه نفر چي دا فابریکه یی کلونه کلونه پر مخ بیول هغه نوره پر مخ نه ویوړه نو ته به یی څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مخ یوسی او بیا د هغی فابریکې تر خوړو اوس څو چنده ښایستی خوړی زموږ همسایه هیواد را استوی،وصال وویل: محموده ما صرف ستا څخه د هغي فابریکې په اړه وپوښتل د پرمخ وړنې په اړه نه هغه ته ماته پریږده چي زه یی څنګه پر مخ وړم اوس درځې چي د هغې فابریکې له مشر سره ووینو،وصال او ملګرو یی د فابریکې د مشر کور ته ورغلل،وصال وویل: مشره موږ غواړو ستا فابریکه چي دا څو کلونه کیږی بنده ده رانیسو که یی تاسو راباندی خرڅوی؟د فابریکې مشر موسکۍ سو او بیا یی وویل: ولي ځوانه پیسې خو به نه یی دربانديې زیاتی سوی چي په دی بیکاره فابریکه یی مصرفوی ما ډیری زیاتی پیسي درلودی هغه می ټوله په دی فابریکه مصرف کړی خو دا دی دی حد ته یی راورسولم چي اوس دا یم د کرایې په کور کی استوګنه کوم چي ما ونسوای کولای نو ته به یی څنګه وکړی ته خو لا تر اوسه کوچنې یی؟وصال موسکۍ سو او ویویل: مشره زه غواړم دا فابریکه رانیسم که یي ته راباندی خرڅوی زه د ډیرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو د اوریدو سره حساسیت لرم ووایه خرڅوی یی؟د فابریکې مشر موسکۍ سو او ویویل: سمده چي ته دومره د خپل ځان په بربادولو پسی ګرځی نو زه دی ولی راوګرځوم ستا خوښه ده سبا راسه پیسی در سره راوړه او د فابریکې اسناد واخله،وصال وویل: سمده زه سبا ته پیسی درته راوړم او ته اسناد تیار که،وصال او ملګری یی ولاړ کله چی ماښام سو نو وصال ته رخسار زنګ ووهلی تر روغبړ او خبرو وروسته یی ورته وویل: وصال د بابا پکار وی او کورته یی د ماښام د ډوډی لپاره غوښتې یی،وصال د رخسار کورته ورغلي تر ډوډی وروسته د رخسار پلار وصال ته وویل: وصاله زویه خبر سوی یم چي هغه د کلونو کلونو د خوړو بنده سوی فابریکه رانیسی ایا دا رښتیا دي زویه؟وصال وویل: هو بابا سبا زه ورځم پیسی ور ورېم او هغه د فابریکې اسناد راکوی،د رخسار پلار وویل: زویه ولی ناحقه ځان تاوانی کوی د هغې فابریکې مشر یوازی زما لکونه لکونه پیسی فرضداره دی داغسی نور هم اوس بیا ته غواړې ځان په پورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی غرق کړی؟وصال وویل: بابا ایا ته په ما باور لري؟د رخسار پلار وویل: هو زویه،وصال وویل: نو بابا ما خپل کار ته پرېږده او په ما باور ولره زه کولای سم دی فابریکې ته پرمختګ ورکم،د رخسار پلار وویل: سمده زویه چې ځنګه ستا خوښه وی،سبا ته وصال او ملګرو یی د فابریکې لپاره پیسی اماده کړی او د فابریکې د مشر کورته یی ور وړلی د فابریکې مشر د فابریکې اسناد وصال ته ورکړل او وصال هغه ته پیسی ورکړلی وصال د فابریکې مشر ته وویل: مشره زه پوهیږم چې په دی لکونو لکونو پیسو کی به تاته یوه پیسه هم نسی پاتې ټوله به پوروړې در ځخه یوسی زه تاته یو وړاندیز لرم ایا ته زما سره په فابریکه کې کار کوې زه تاته هره میاشت معاش درکوم؟د فابریکې پخوانی مشر موسکۍ سو او ویویل: بلکل همداسی ده په دی پیسو کی به یوه پیسه هم ماته نسی پاتی زه ستا سره کار کوم ولی نه،وصال تری مننه وکړه او بیا د فابریکې پر طرف رهي سول کله چې فابریکې ته ورسیدل نو د فابریکې قلف یی خلاص کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ملګرې یی غوښتل چي فابریکې ته ننوځې خو وصال هغه ونیوی او بیرته یی را ویستی او ټول ملګرو ته یی وویل: ملګرو ملګرو تاسو یو څو شیبی صبر وکی، بیا یی موبایل راویستی او رخسار ته یی زنګ ووهلی او رخسار یی فابریکې ته راوغوښتل څو شیبی وروسته رخسار راغلل وصال هغې ته وویل: رخسار نن د فابریکې د خلاصولو لومړی ورځ ده نو د ښه بخت لپاره به لومړی ته فابریکې ته قدم دننه کوی،رخسار ډیره خوشحاله سوه او بیا یی فابریکې ته خپل لومړی راسته پښه په موم کی کښیښول او بیا یی دوهمه پښه دننه کړه او بیا ټول دننه سول وصال په موم کي د رخسار د چاپ سوی پښی چاپ په فابریکه کي پر یو دیوال وموښلوی،

ټولو په ګډه سره فابریکه پاکه کړه او د لا ښه بخت لپاره یي خیراتونه پکښی وکړل او فابریکه یي ښه سره سمه کړه بیا یی د فابریکې د پخوانی مشر سره پر تیرو ډیزاینونو بحث وکړ وصال د فابریکې پخوانې مشر ته وویل: زه غواړم چي پخوانې ټول د خواړو ډیزاینونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور بدل کم، بیا یی کاریگرو ته امر وکړ چي د خواږو شکل ور واړوی او د پخواني خوږوالی څخه یی یو څه اندازه شکره او خوږوالی ور کم کړي د فابریکې پخوانې مشر پوښتنه تری وکړه او ورته یی وویل: ریس صاحب که دی خوږوالی ور کم کړ نو په بازار کی به هیڅوک وانه خلی ځکه ما ډیره زیاته شکره پکښی استعمالول بیا هم نه وتل خو چی ته یی ورکمه کړی نو تر هغه به لا کښته سی،وصال وویل: ددی خبری جواب به بیا ته د موادو د بازار ته د وړاندی کولو وروسته پیدا کړی اوس چي ما څنګه درته ویلی دی هم هغسی وکړی،د وصال د امر سره سم همداسی وسوه د خواږو شکل واوښتل سو او شکره یی کمه سوه کله چي خوږه د بازار د عرضی او وړاندی کولو لپاره تیار سوه نو وصال هغه په یو غټ موټر کی واچول ده او ملګرو یی بازار ته یوړل هر دوکاندار ته به یی ویل چی نوی خوږه ده ارزانه او باکیفیته ....هر دوکاندار به منفی جواب ورکوی چي نه یی غواړو خو کله چي به وصال هغوي ته د خواږی یو څه اندازه د خوند کتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ورکړه نو ورته وبه یی ویل چي دوه کارټنه یا هم دری کارټنه راکړه ټولو دوکاندارانو همداسی کول دا وو چي د نن ورځی غټ موټر خوږه خلاصه سول ټول ډیر خوشحاله سول کله چي وصال فابریکې ته راغلی نو یی کاریګرو ته وویل: سبا ته د تیری ورځی په نسبت یو څه کمه خواږه جوړه کړي؟د فابریکې مشر وویل: ریس صاحب ودی نه لیدل چي د تیری ورځې خوږه ټوله ووتل سبا به خامخا د بازار تقاضا ډیره وی نو ته یی ولی کموې او په دی هم نسوم پوه چي تا ولی د خواږی شکره ورکمه کړه خو بیا هم هغه زما د وخت په نسبت زیاته ووتل؟وصال موسکۍ سو او ویویل: موږ باید خلکو او بازار ته په کتو سره بازار ته شیان وړاندی کړو اوس هغه پخوانی وخت نه دی چی ټولو خلکو روغ صیحت درلودی اوس زیاتره خلک په رکم رکم ناروغیو او د شکري په نارغیو اخته دی چي زیات خواږه شیان نه خوښوی نو مي ځکه د خواږو شکره ور کمه کړه او د تیری ورځې د خوږو په نسبت نن ځکه کم خواږه بازار ته وړاندی کوم ځکه چی ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل چي زما خوارو ته د بازار تقاضا ډیریږی او ځومره چي د بازار تقاضا ډیریږی هغومره د یو فابریکې شیان قدر پیدا کوی او خلک یی لا نور هم غوښتونکی سی،ددی خبرو په اوریدو سره ټولو د وصال پر زیرکتیا او هوښیارتوب چکچکی وکړی، سبا ته خواره بازار ته د عرضی لپاره اماده سوه پخوانی دوکاندارانو چي به غوښتل هم نه خو هغوی اوس ددی خوړی لپاره په تمه وو کله چي وصال ور ورسیدی نو هغو به ویل چی مور تاته په تمه وو پخوا به یی دوه و دری کارټنه غوښتل خو نن یی شپږ و لس کارټنه غوښتل وصال به هغو ته ویل چي نن خوره لږ ده او زه یی باید ټولو مشتریانو او دوکاندارانو ته مساوی تقسیم کم نو ځکه یی هر دوکاندار ته دوه دوه کارټنه ورکول هر دوکاندار او مشتری به ورته ویل چي سبا ته مور ته لس و شل کارټنه راوړه همدا سلسله همداسی روانه وه چي دوکاندارانو به شل کارټنه خوره غوښتل وصال به لس و پنځلس ور کول د بازار تقاضا به نوره هم ډیریدل وصال ته پر ټلیفونو به واری نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدی ټولو به د خوړو غوښتنه کول څنګه چی د بازار تقاضا او غوښتنه ډیره سوه نو ځکه وصال فابریکې ته د خوړو نور ماشینونه هم راوړل پخوا به وصال او ملګرو او کاریګرو به مال بازار ته دکاندارانو ته ور وړی خو اوس ټول مشتریان او دوکانداران فابریکې ته د خوړو د اخیستو لپاره راتلل وصال په خپل کاروبار کی ډیر پرمختګ وکړ په شپږ میاشتو کی یی د رخسار پلار ته د هغه پیسی ټولې بیرته ورکړی فابریکې یی میاشت په میاشت پرمختګ کاوه او په لږ وخت کي یی نوری فابریکې او کمپنۍ هم رانیولی په اخبارو او مجلو کی یی د کاریګرو لپاره اعلان وکړ ډیر کارکونکې یی په کار وګمارل د پخوانیو کاریګرو معاش او وظیفی یی هم ور لوړی کړی یوه ورځ وصال په خپل دفتر کي ناست وو چي د دفتر دروازه یی د اجازی لپاره وټکیدل وصال د ورتلو اجازه ورکړه ګورې چي هغه دده پلار وو دواړه ډیره سره حیران سول تر څو شیبو حیرانتیا وروسته وصال خپل پلار ته وویل: راځه راځه بابا کښینه، پلار یی هم کښینستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال پلار ته چای ور واچولې پلار یی همداسی چپ ناست او څه یی نه ویل وصال هغه ته ډیر په مینه مینه کتل چي په دی وخت کي د وصال مرستیال راغلې او وصال ته یی وویل: ریس صاحب میلمانه راورسیدل او دا څو دقیقی کیږی چی تاسو ته په تمه دي،وصال وویل: د نن غونډه لغوه که زه مصروف یم،مرستیال یی وویل: ریس صاحب هغه د لویو لویو شرکتو او کمپنیو خاوندان دی او زموږ لوی لوی مشتریان دی زه یی غونډه څنګه لغوه کولای سم،وصال په غوسه سو او ویویل: بی عقله ما نه درته وویل چي لغوه یی کړه نه می وینی چي زه مجلس لرم او مصروفه یم،په دی وخت کي د وصال پلار د وصال مرستیال ته وویل: ودریږه زویه غونډه مه لغوه کوه دی به درسی بیا یی وصال ته وویل ته اړتیا نلری چی زما لپاره غونډه لغوه کړی زه صرف دلته ددی لپاره راغلی وم چي ستاسو کمپنۍ په اخبار کی اعلان نشر کړی وو چي تاسو یو خزانه دار (منشې) ته ضرورت لري ما څو کلونه په بانک کی وظیفه کړیده زیاته تجربه لرم زامن مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیکاره دی پر کور ناست دی هغه وظیفه تاسو ماته راکړی واخلی دا می اسناد دی،د وصال په سترګو کي په دی وخت کي اوښکې راغلی او ورته یی وویل: بابا زه خو دی هم زوی یم او دا کمپنې او فابریکې خو ستاسو هم دی نو بیا تاسو ولی ځان پردی کوی،پلار یی وویل: ما درته وویل چی زه صرف دلته د کار لپاره راغلی یم که تاسو ما ته هغه وظیفه راکوی رایی کړی که نه د خدای په امان،په دی وخت کي د وصال د کاروبار یو ملګرې د وصال دفتر ته ور ننوتی وصال ژر خپلې اوښکی پاکی کړی او پلار ته یی وویل: سمده چي څنګه ستاسو خوښه وی سر د سبا څخه تاسو خپلې وظیفی ته راتلای سی،وصال د خپل دفتر څخه ووتي او د ملګرې سره غونډی ته ولاړی د میلمنو څخه یی د ناوخته کیدو بخښنه وغوښته او بیا یی پر کاروبار بحثونه شروع کړل کله چي غونډه خلاصه سول او ټول ولاړل نو وصال خپل مرستیال خپل څنګ ته رانیږدی کړ او هغه ته یی وویل: زه بخښنه غواړم یاره ما په غوسه کی تاته بد و رد وویل،مرستیال یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پوهیږم ریس صاحب ما بخښلی یی هیڅ خبره نه ده،په دی وخت کي وصال ته زنګ راغلی کله چي وصال نمبر ته وکتل نو ویلیدل چي رخسار ده تر روغبړ وروسته رخسار وویل: زما ښاغلې ستا فیاد دی چي دوی ورځی وروسته کمه ورځ ده؟وصال موسکی سو او ویویل: ښنګه یی هیرولای سم ځان به هیر کم خو دا ورځ به هیره نه کم همدا ورځې ته خو زه د میاشتو میاشتو راهیسی انتظار یم د نوی کال لومړی ورځ او زما او ستا د یو ځای کیدو ورځ (کوزدی) ورځ، رخسار وویل: ځه درواغجنه ستا هیره وه دا خو ما در فیاد کړه که نه نو سهار د وخته به دی لا پر ما زیری کړی وای،وصال وویل: ښنګه یی هیرولای سم ایا ساه هم چا هیره کړیده؟رخسار وویل: بس بس غوړه مالی مکوه زه ستا ښخه خوابدې یم،وصال موسکی سو او ویویل: مړ می که خو دا د خوابدتیا سزا مه راکوه،رخسار وویل: چپ سه لیونیه بیا دا د مرګ بد خونده خبری مکوه زه خو خدای ته دا دعا کوم چی خدای زما عمر لا تاته درکړی،وصال وویل: چپ سه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونۍ خدای دی داسی نکوی،رخسار وویل: بس بس نوری خبری مکوه بالا نن ماښام کورته راسه او بابا ته به یی ور فیاد کړی چی دوی ورځ وروسته زموږ د کوزدۍ ورځ ده زه نسم ورته ویلای ځنی شرمیږم، وصال موسکی سو او ویویل: سمده انشاءالله،کله چي ماښام سو نو وصال د رخسار کورته ورغلۍ رخسار وصال ته په دروازه کی انتظار وه تر روغبړ وروسته دواړه د رخسار د پلار و طرف ته ور روان سوه تر روغبړ وروسته رخسار و وصال ته اشاره وکړه چی ورته ووایه وصال بیرته رخسار ته اشاره وکړه چي ته ورته ووایه دوی همداسی اشاری سره کولی وروسته وصال د رخسار پلار ته وویل: بابا دوی ورځې وروسته کمه ورځ ده؟د رخسار پلار وویل: درنی (دوشنبه) ده زویه،وصال او رخسار بیا پریشانه سول وصال بیا وویل: یا بابا زما مطلب دا دی وام د کال کمه ورځ ده؟د رخسار پلار وویل: لومړی ورځ به یی وی،وصال او رخسار اوږدی ساوی کښلی چی بابا یی ولی نه پوهیږی وصال وویل: نو بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کم پلان لری چي په دا ورځ یو وکړی؟د رخسار پلار وویل: نه زویه کم پلان نلرم،اخیر رخسار نفستنګی سوه او پلار ته یی وویل: بابا د یو چا سره به دی په دی ورځ د کم څه وعده نه یی کړی؟پلار یی وویل: نه لوری نو څه وعده می کول، رخسار او وصال دواړه نفستنګی سول او اوږدی ساوی دواړه باسی څو شیبی وروسته یی پلار وویل: زه پوهیږم چي تاسی څه وایست او د سهار راهیسی د څه اشاری سره کوی زه مو دا اشاری وینم دوی ورځې وروسته د کال لومړۍ ورځ او ستاسو د کوزدی ورځ ده داغسی ده؟ وصال او رخسار دواړه موسکۍ سوه او وشرمیدل بیا د رخسار پلار د خپل جیب څخه دوی ګوتې ( انګیشترۍ) راویستی او رخسار او وصال ته ورکړی او ویویل ورته: دا انګیشتری مو خوښی دی د کوزدی لپاره؟وصال او رخسار ډیر حیرانه سول او دواړه خپل پلار ټینګ په غیږ کی ونیوی او مننه یی تری وکړه د رخسار پلار وصال ته وویل: وصاله زویه زه درباندی ویاړم تا زما سر را لوړ کی زویه څومره تمه چي ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته درلودل تر هغه لس چنده پرمختګ دی وکړ افرین دی سی پر تا زویه زه ویاړم چی ستا په رکم ځوان می زوم کیږی،وصال وویل: مننه بابا خو دا هر څه ستاسو له برکته دی دا هر څه خو تاسو ما ته راکړل بابا کم پرمختګ چي ما کړیدی او کم څه چی زه لرم دا ټول ستاسو له برکته دی،د رخسار پلار وویل: نه زویه دا خو ستا د هڅی او کوښښ له امله دی ما خو صرف پیسی تاته ددی لپاره درکړی چی زه تا په وازمویم که مي چیری بل چاته ورکړی وای نو هغه به پر عیاشی او د یو څو ورځو پر خوښیو مصرف کړی وای خو ته د هغو له ډلی نسوی زه درباندی ویاړم زویه،

وصال او ملګرو یی د کوزدی مراسمو ته اماده ګی نیول کله چي د کال لومړی ورځ سوه نو په ماښام کی یی د وصال او رخسار د کوزدی مراسم پیل سول د کوزدی مراسمو ته یی لوی لوی چارواکی او تجاران راغلی وه د وصال او رخسار د کوزدۍ نکاح وتړل سوه څو شیبی وروسته د مراسمو ختمیدو ته لا وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتی وو چي رخسار وصال ته وویل: وصال زه باید یو ارام وکم ډیر می پر سر درد دی،

وصال وویل: رخسار! میلمانه لا تر اوسه دلي دی ته هغه څنګه یوازی پریږدی او ځی؟

رخسار وویل: وصال بخښنه غواړم نوره نسم پاته کیدای،

وصال وویل: سمده نو ورسه ته ارام وکه بیا به سهار زه د پاتی میلمستیا کیسه درته وکم ورسه ښه شپه رخسار می،

رخسار وویل: تاته هم ښه شپه وصال می،

وختونه همداسی تیریده وصال ډیری کمپنۍ او فابریکې رانیولی او د هیواد تر ټولو ستر تجار سو خو وصال خپلې لومړی فابریکې ته زیاته پاملرنه کول ځکه چی ده هر څه د همدی فابریکې په برکت پیدا کړی وه د همدی فابریکې مسؤل د وصال سره په مجلس کی وویل: ریس صاحب بهرنی هیواد هم زموږ پخیر فالیسی ته لاس اچولی او زموږ خواږه په بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی دا څو ورځې کیږی چې خپل مقام کښته کوی بازارمندنه او تقاضا کمیږی په دی اړه ستاسو نظر څه دی چی باید څه وکړو؟

وصال وویل: کوم خواړه چی موږ مخکی جوړول اوس د هغو رنګ او شکل بدل کړی او مغزی مواد یی ور زیات کړی د یوی میاشتی لپاره یی په دومره نرخ بازار ته عرضه کوې چې صرف خپل مصرف پوره کړی کله چې زیات عرضه سوه نو د بهرنی هیواد خواړه خپل قیمت بایلی چی د څو میاشتو په جریان کی به د هغو کمپنۍ فلج سی او موږ به بیرته قیمتونه لوړ کړو او بیرته به خپل بازارمندنه پیدا کړو بیا هغوی د څو کلونو لپاره کار نسی کولای،

ټولو د وصال پر پوهی چکچکی وکړی د وصال کاروبار او تجارت ورځ په ورځ پراختیا موندل وصال خپل ورونه راوغوښتل او په کمپنیو کی یی په کار وګمارل او ټولو ته یی لوړی رتبې ورکړی ټول ډیر سره خوشحاله وه رخسار او وصال به هره ورځ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل او د واده بحثونه به یی سره کول څو میاشتی تیری سوی یوه ورځ وصال د رخسار کورته ورغلی وو د رخسار او پلار سره یی باندار کاوه څو شیبی وروسته د رخسار سر په لوګرځیدی او سر څرخی یی وسوه خو وصال او پلار یی ځان ته نه کړه متوجی او ولاړه سوه او خپلی خونې ته روانه سوه پلار یی ور ناره کړه او ویویل: رخسار لوری چیری ځی خیریت دی؟

رخسار په تګ او رفتار کی وویل: بابا ځم خونی ته می کار مي دی،

پلار یی وویل: راسه لورې چی وصال ولاړی بیا به یی وکي،

رخسار وویل: نه بابا ضروری دی،

پلار یی هم څه نه وویل او رخسار خپلی خونی ته ولاړه کله چي خپلی خونی ته ورسیدل نو په هنداره کي یی وکتل ګوري چي تر پزی یی وینه رابهیدل رخسار ډیره پریشانه سوه په همدی پریشانی کي ډوبه وه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی وخت کي یی د خونی دروازه وټکیدل رخسار ژر خپل پزه له وینو څخه پاکه کړه او ویویل: څوک؟

په دی وخت کی یی وصال خونی ته ورننوتی او ویویل: زه یم ګرانی ماته اجازه سته،

رخسار موسکی سوه او ویویل: هو ولي نه راځه زه خو هم دا ستا یم نو بیا اجازی ته څه اړتیا ده،

وصال موسکی سو او د رخسار لاس یی په لاس کی ونیوی او ویویل: زما ګرانی دا څه وخت کیږی ته یو څه پریشانه رامعلومیږی خیریت خو به یی ایا زما څخه خو به کومه غلطی نه وی سوی،

رخسار موسکی سوه او ویویل: نه نه ګرانه الله دی نه کوي ته خو په لک هاوو کی یو یی زه بختوره یم چي ستا په رکم خاوند می په نصیب کیږی زه خو الله ته دا دعا کوم چي ستا په څیر خاوند دی هری پیغلی ته ورسیږی،

وصال موسکی سو او ویویل: او زه بیا دا دعا کوم چي ستا پڅیر بدرنګه میرمن دی خدای هیچا ته نه ورکوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار او وصال دواړه په خندا سوه او رخسار وویل: څه لیونیه!!! زه نو بدرنګه یم؟

وصال د رخسار لاس ښکل کړ او ویویل: نه نه مسخری می کولی ته خو د نړی تر ټولو ښایسته میرمن یی چی الله ماته راکړی یی،

څو میاشتی تیری سوی د وصال په هغه کمپنۍ کی غلا وسوه په کومه کمپنۍ کی چی دده پلار منشی وو د هغی کمپنۍ مدیر ټولو کاریګرو ته اخطار ورکړ چي باید د غلا پیسی بیرته کمپنۍ ته راوړی که نه نو ډیر بد چلند به ور سره وکړی ټول کاریګر ډیر وارخطا وه ددی کیسی څخه وصال خبر سو او همغی کمپنۍ ته څو ورځی وروسته راغلی او د کمپنۍ په صالون کی یی ټول کاریګر راوغوښتل او مدیر یی هم راوغوښتی وصال ټولو کاریګرو ته وویل: تاسو ټول تر ما مشران او ددی کمپنۍ د څو کلنو راهیسی کاریګر یاست ددی کمپنۍ لکبله تاسو خپلو کوچنیانو ته ډوډی او د ژوند نورې اسانتیاوی برابروی نن چي ددی کمپنۍ سره کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیانت سویدی دي کمپنۍ او ماته هیڅ تاوان نه رسوی خو کم کس چي دا کار کړیدی هغه ته به ډیر تاوان ورسیږی البته که یی خپله خپل ګناه ومنل او غلا سوی پیسی یی بیرته راوړلی نو شاید زه پری رحم وکم خو که یی نه راوړلی نو د ډیر بد حالت سره به مخ سی او د ټولو ومخته به یی رسوا کم تاسو دی خبر یاست چي ددی کس معلومول ماته هیڅ زور او تکلیف نه غواړی زه یی معلومولای سم او تاسو می په دی خاطر دلته راوغوښتلاست چي تاسو هغه کس ووینی نو ښه ده چي خپله خپل ځان راوښیي که نه نو بیا دی زما څخه ګیله نه کوی چی ما بیا هر حالت پر راوستی اوس لا وخت لری زه هغه ته دوی دقیقی وخت ورکوم چی باید خپله خپل ګناه ومنی،

ټول کاریګر ډیر حیران سول او ټول ودیته انتظار وه چي اوس به څوک ځان مجرم ومني ټول انتظار وه چي په دی وخت کی د همدی کمپنۍ مدیر وصال ته وویل: ریس صاحب وخت مه ضایع کوه موږ خبر یو چي غل

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک دی ایسی یی ژر رسوا که دوو نورو ملګرو یی هم د مدیر د خبرو تائید وکړ،

وصال وویل: څوک دی هغه؟

مدیر د کمپنۍ منشي یعنی د وصال پلار ته چي مدیر لا نه پیژندی چي دا د وصال پلار دی اشاره وکړه او ویویل چي غل همدا منشي دی ملګرو یی وویل هو همداسی ده ریس صاحب غل همدا زموږ منشي دی،

ددی خبر په اوریدو سره د وصال مخ د ډیره قهره تک سور سو خو هیڅ یی ونه ویل کله چي یی پلار دا خبره واوریدل نو ډیر وارخطا سو او وصال ته یی وویل: ریس صاحب ریس صاحب زه په خدای قسم کوم چي ما غلا نه ده کړی ما غلا نه ده کړی ریس صاحب،

وصال هیڅ نه ویل څو شیبی وروسته د کمپنۍ مدیر د وصال پلار پوری وهی او ورته یی وویل: ولاړ سه بی شرمه یو وار غلا کوی او بیا وایی چی ما غلا نه ده کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چی د کمپنۍ مدیر د وصال پلار پوری وهی وصال ډیر په غوسه سو او ور ولاړ سو او مدیر یی ټینګ په لغته ووهلی او د دروازی سره یی وجنګوی بیا یی راپورته کړ او د مځکی یی وویشتی او ورته یی وویل: بی غیرته تا زما پلار ته غل وویل د ژوند څکه ولاکه راڅخه وکی،

کله چي وصال منشي ته په پلار وویل نو ټول ډیر حیران سول وصال خپلو وهلو ته ادامه ورکړی وه او هر واری یی همدا ویل چی تا زما پلار ته په غل وویل تر دی حده یی ووهلی چي د مدیر مخ ټول په وینو ککړ سو پلار یی ورځغستل او وصال یی ټینګ کړ او ورته یی وویل: ریس صاحب ریس صاحب هغه پریږده که نه مړ به سی ریس صاحب پریږده هغه پریییږده ریس صاحب،

خو وصال خپلو وهلو ته ادامه ورکړی وه بیا یی پلار وویل: وصاله زویه پریږده هغه که نه مړ به سی وصاله زویه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي وصال د خپل پلار د خولی څخه د زوی کلمه واوریدل چی و ده ته یی په زوی وویل نو مدیر یی پریښوی د وصال تر سترګو اوښکي بهیدلی او بیا یی پلار ته مخ واړوی او هغه یی ټینګ په غیږ کی ونیوی او د بابا بابا په نامه یی ورته ویل کله چي ارام سو او غوسه یی لیری سوه نو مدیر یی تر کالو ونیوی او ټولو کاریګرو ته یی وویل: غلا دی بی غیرته کړی وه خو نور یی پر تاسو او زما پر پلار پوري کړ،

ټول ډیر حیران سول بیا وصال د پروجکتور پر مخ د دوی د غلا ویدیو چي جاسوسی کیمری تری نیولی وه ټولو ته ورښکاره کړه بیا یی مدیر او د هغه ملګري تر کمپنۍ ویستل ټولو بیرته د پخوا پڅیر خپل کارونه شروع کړه وصال څو ورځی وروسته خپل پلار ته وویل: بابا ته نور پر کور کښینه دا دی موږ خو یو موږ کار کوو ستا و کار ته حاجت نسته ته استراحت وکه،

پلار یی وویل: وصاله زویه پر کور چي کښینم دیغت کوم زه باید په یو کار اخته یم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: نو سمده بابا خو ته به هم زما یو شرط مني؟

پلار یی موسکۍ سو او بیا یی وویل: څنګه شرط زویه؟

وصال وویل: ته به زما د نوکرانو د کمپنۍ ریس کیږی زه غواړم هغه ستا په نامه کم،

پلار یی ډیر خوشحاله سو او بیا یی وویل: نه نه زویه دومره غټه تحفه او دومره لوی احسان زه نسم منلای،

وصال وویل: بابا څه چی زما دی هغه خو ستا هم دی او زه پر تا احسان نه کوم ایا تا او مور چي زه دې دنیا ته راوړلم او روزلم مو ایا دا غټ احسان او غټه تحفه نه ده چی تاسو ماته راکړه نو ایا زه دا دومره کوچنی تحفه تاسو ته نسم درکولای،

پلار یی نه منل خو اخیر د وصال د ډیر ټینکار سره یی پلار ومنل او د نوکرانو د کمپنۍ مشر یی کړ،

وصال غوښتل پر رخسار د پلار سره د یو ځای کیدو زیری پر رخسار وکړی خو کله چي یی تلیفون ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ نو رخسار به پر کاټ کی وصال بیا زنګ ور ووهلی خو رخسار بیا کاټ کی وصال د رخسار پلار ته زنګ ور ووهلی او هغه ته یی وویل چي رخسار چیری ده د رخسار پلار وویل: چي هغه خو په کور کی ده،

وصال ډیر پریشانه سو چي رخسار تلیفون ولی نه پورته کوی په موټر کی کښینستی پنځلسمه برخه:

او د رخسار کورته ور روان سو کله چی هلته ورسیدی نو ویلیدل چی رخسار د یو ځوان سره ناسته وه او باندار یی کاوه وصال د دروازی و شاته ودریدی او رخسار ته یی زنګ ور ووهلی کله چی رخسار ته زنګ ورغلی نو رخسار وکتی او بیرته یی تلیفون پر مځکه کښیښوی او په باندار اخته سوه وصال ډیر پریشانه سو او د رخسار و خواته ور روان سو کله چي هغی ته ور ورسیدی نو ورته یی وویل: رخسار زه د سهار راهیسی تاته تلیفونونه کوم او ته دلته ناسته یی باندار کوی او زما تلیفون ته جواب نه وایی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار او هغه ځوان حیران سول چې وصال د سلام پر ځای اول خوشکه شروع کړه د رخسار سره ناست ځوان وصال ته د روغبړ لاس ونیوی او ویویل: سلام زه شکیب یم،

د وصال غوسه سړه سوه او هغه ځوان ته یې لاس ورکړ او ویویل: وعلیکم السلام وصال یم،

رخسار وصال ته ډیر بد بد کتل شکیب وویل: وبخښی زه باید اوس ولاړ سم ښه وخت رخسار ښه وخت وصال،

کله چې شکیب ولاړی نو رخسار خپلی کوټې ته راونه سوه وصال تر لاس ونیول او ورته یې وویل: رخسار ما د څه وخت راهیسی درته تیلفونونه کول تا دا پورته کوی ولی نه څه خبره ده،

رخسار په غوسه وویل: وصاله زما لاس ایله که،

خو وصال د هغی لاس ټینګ نیولی وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار بیا وویل: وصاله ما درته وویل چی زما لاس ایله که،

خو وصال د هغی لاس ټینګ نیولی وو او نه یی ور ایله کاوه،

رخسار ته درد ورغلی او پر وصال یی یوه لویه ناره وکړه چي وصاله زما لاس ایله که، کله چی وصال د هغی دومره غوسه ولیدل حیران سو نو د هغی لاس یی ور ایله کړ او رخسار خپلی کوټی ته ولاړه په دی وخت کی د رخسار پلار هم راغلی د رخسار ناره یی واوریدل او وصال ورته وویل: بابا په رخسار نن څه سویدی د سهار راهیسی می تلیفونونه ورته راکول خو هیڅ جواب یی نه راکوی چی دلته پسی رالم نو دا په باندار د هغه ځوان سره اخته وه نه پوهیږم چي څه خبره ده،

پلار یی وویل: زه هم نه پوهیږم زویه چی څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: بابا هغه ځوان څوک وو چي دلته راغلی وو؟

د رخسار پلار وویل: هغه زما وراره او د رخسار د اکا زوی وو،

وصال ډیر پریشانه وو او ټوله شپه ویښ وو او لټ پر لټ اوښتی خوب نه ورتلی د رخسار غوسه یی په دماغ کی ګرځیدل کله چی سهار سو نو په دفتر کی یی طاقت نه کیدی نو رخسار ته یی زنګ ور ووهلی خو رخسار پر کاټ کړ بیا یی ور ووهلی خو رخسار بیا پر کاټ کړ وصال حیران وو چي څه پیښه ده نابره کله چی د رخسار کورته ورلی نو بیا یی ولیدل چي رخسار د شکیب سره ناسته وه او خندل یی وصال ډیر پریشانه سو هلته څو دقیقو ورته منتظر وو او د رخسار او شکیب خبرو ډیر بد خوند ور کاوه څو دقیقی وروسته شکیب ولاړی او وصال د رخسار و طرف ته ورلی او رخسار ته یی وویل: رخسار ته دا خبرو او بانډار او خنداوو ته وخت لری دا زما تلیفون ته وخت نسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کولای چی جواب راکی اخیر دا نفر څوک دی چي زما وستا په مینځ کی یی فاصله راوستل بل وار دی ددی هلک سره ونه وینم،

رخسار وویل: ته څوک یی چی ما راګرځوی؟

وصال ددی خبری په اوریدو ډیر پریشانه سو او سترګی یی راوختی او رخسار ته یی په ژړغونی اواز وویل: یوه دا خبره دی پاته وه سمده صحی ده زه پردی یم ما ناحقه وکړه چی تاته می دا وویل،

د وصال تر سترګو اوښکی راغلی او د رخسار له کوره ووتی په دروازه کی د رخسار پلار ولیدی چی د وصال تر سترګو اوښکی را روانی دی او په موټر کی کښینستی او ولاړی د رخسار پلار چی کله کورته رالی نو رخسار ته یی وویل: ایا تا بیا د وصال سره جنګ وکی؟

رخسار وویل: هغه بابا دی رالی....

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار لا خبره پوره کړی نه وه چي پلار یی په غوسه ورته وویل: ما چي کمه پوښتنه در څخه وکړه د هغه جواب راکه،

رخسار وویل: هو بابا

پلار یی رخسار ته ډیر په غوسه سو او خپلی خونی ته ځنی ولاړی رخسار هم په غوسه خپلی خونی ته ولاړه، وصال ټوله شپه په ژړا تیره کړه او تر سهاره بیده نسو څو ورځی تیری سوی وصال او رخسار هیڅ خبری سره ونه کړی وصال به ډیر خوابدی دفتر ته راتلی او وتی هیڅ شی او هیڅ کاروبار ته یی زړه نه کیدی څو ورځی وروسته وصال په خپل دفتر کی ناست وو چي د رخسار د پلار تلیفون ورته رالی وصال ډیر خوشحاله سو فکر یی کاوه چی یو ښه خبر به وی کله چی یی د رخسار د پلار تلیفون ته جواب ورکړ نو د رخسار پلار ورته وویل: وصاله زویه ته یو وار کورته راسه که تکلیف نه وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال ورته وویل سمده او د رخسار کورته په ډیری خوشحالی ور روان سو کله چی د رخسار کورته ورسیدی نو ویلیدل چی رخسار او پلار یی ډیر خوابدی ناست دی وصال هم حیران سو تر روغبړ وروسته د رخسار پلار وویل: وصاله زویه نه پوهیږم چی ستاسو جنجال پر څه خبره سره راغلی وو خوښه نه وسوه زویه ما خو ډیر نصیحتونه ورته وکړه خو دا تر خپلی فیصلی نه تیریږی او پر خپله فیصله یی ټینګار دی نو چی خبره نوره سره ترخه نسی او جنجالونه نور زیات نسی نو دا وایی چی ما دا فیصله کړیده نور تاسو پوه سواست او فیصله مو،

وصال وویل: کمه فیصله بابا؟

د رخسار پلار په کراری وویل: وصال زویه رخسار غووووواړی چي ستا څخه طلاق واخلی،

وصال ډیر حیران سو او په حیرت سره یی رخسار او د هغی پلار ته وکتل او بیا یی تر سترګو اوښکې راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د رخسار پلار ته یی په ژړا وویل: بابا دا ته څه وایی؟

د رخسار پلار وویل: زه نه زویه دا د رخسار پریکړه ده،

وصال د رخسار خواته ورغلی او رخسار ته یی په ژړغونی اواز وویل: رخسار دا بابا چي څه وایی ایا دا رښتیا دی ایا ته په رښتیا هم زما ښځه طلاق غواړی؟

رخسار وویل: هو زه طلاق غواړم،

وصال چی کله د رخسار د خولی څخه دا خبره واوریده نو ډیر حیران سو او بیا یی رخسار ته وویل: خو ولی؟

رخسار وویل: بس دا زما پریکړه ده زه طلاق غواړم،

وصال وویل؛ رخسار خو اخیره څه سوی چي ته زما څخه طلاق غواړی ایا زما څخه کومه غلطی سوی ده که راڅخه سوی یی نو زه بخښنه غواړم در څخه بیا به یی هیڅکله ونه کم خو هیله کوم ته زما څخه مه جلا کیږه زه بیله تا ژوند نسم کولای هیله کوم رخسار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار وویل: وصاله تا زما فیصله واوریدل او زه هیڅکله د خپلی فیصلی نه اوړم زه طلاق غواړم چی په هر رکم وی،

وصال و رخسار ته ډیری زاری او ننواتی وکړی خو رخسار د وصال یو خبره هم نه منل اخیر وصال ته هم درد ورغلی او په درد سره یی رخسار ته وویل: ایا دا ستا اخیری فیصله ده رخسار؟

رخسار وویل: هو،

وصال وویل: نو زما فیصله هم واوره هیڅکله دی ولاکه طلاقه کم لاس دی ازاد چی هر څه کوی،

رخسار ته هم درد ورغلی او وصال ته یی وویل: زه به وګورم چي ته څنګه ما ته طلاق نه راکوی ته یی څوک زما د پلار په پیسو دی دا هر څه پیدا کړه او اوس موږ ته غټ غټ کیږی،

د رخسار پلار ته پر دی خبری زیات درد ورلی چی رخسار وصال ته وویل چی زما د پلار په پیسو....... نو یی په درد سره رخسار ته وویل: رخسار که می بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وار داسی خبره در ځخه واریدل نو په مځکه کی به دی ژوندی ښخه کم ته چي طلاق غواړی هغه ستا خپل کار دی خو که دی د وصال بی عزتی وکړه نو دا زه نسم زغملای وصال چي څه لری هغه ده په خپل لیاقت سره پیدا کړیدی نه زما په پیسو، د رخسار پلار د ډیره دردہ خپل کوټی ته ولاړی رخسار او وصال سره پاته سول او بیا وصال رخسار ته وویل: پوهیږم د کله چی شکیب دلته راغلی دی او ستا د هغه سره شناخت پیدا سوی د هغه راهیسی دا کیسی شروع سویدی ټوله هغه احمق دی،

رخسار په درد وصال ته وویل: هو هو چی هر څه ته فکر کوی خو بل وار د هغه نوم په خوله کی لا را نه وړی،

وصال وویل: رخسار زه به مرګ قبول کم خو تا ته به هیڅکله طلاق در نه کم،

وصال دا خبره وکړه او د رخسار د کوره ووتی یو لیری ځای ته ولاړی او په یو ارام ځای کی یی موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودروی او تر سترګو یی اوښکې روانی سوی او هلته یی ډیر وژړل او بیا خپل کورته ولاړی کله چي یی پلار ولیدی نو پوه سو چی وصال خوابدی دی نو ورلی او پوښتنه یی ځنی وکړه: وصاله زویه څه خبره ده خیریت دی،

وصال څو شیبی چپ وو او بیا یی پلار په غیږ کی ونیوی او په ژړا سو پلار یی ډیر حیران سو چي څه پیښه ده بیا یی وصال په غیږ کی ټینګ کړ او ورته یی وویل: وصاله زویه وصاله زویه چپ سه زویه دا څه کوی،

وصال هم چپ سو او خپلی اوښکې یی پاکی کړی بیا یی پلار ورته وویل: وصاله زویه ته دی خپلی خونی ته ولاړ سه بیابه پر کراره خبری وکو ورسه زویه،

وصال هم خپلی خونی ته ولاړی او ټوله شپه یی په ژړا تیره کړه او د سهار وخواته بیده سوی وو پلار یی د شپی ناوخته د وصال خونی ته ورغلی ویلیدل چی د وصال په لاس کی یو عکس دی او په غیږ کی یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیولی دی او د هغه سره بیده سوی وو او تر سترګو یی اوښکې راغلی وی پلار یی وصال پر ځای سره سم کړ او عکس یی را واخیستی چی ویکتل نو د رخسار عکس وو پوه سو چی د مینی معامله ده هغه د رخسار بغلته پر میز کښیښوی،

وصال په دفتر کی وو چي تلیفون ته یی زنګ رالی وصال چی کله جواب ورکړ نو د رخسار د کور یو مزدور وو او هغه وصال ته وویل چی رخسار غواړی دا هیواد پریږدی او خاریج ته د خپلوانو کورته د تل لپاره ځی،

وصال ډیر حیران سو او ژر د دفتر څخه ووتی او د رخسار د کور وخواته ولاړی کله چي د رخسار کورته ورسیدی نو ویلیدل چي د رخسار د سفر بسته په لاس کی ده او روانیږی وصال په بیړه ورلی او رخسار ته یی په زهیره لهجه وویل: رخسار زه خبر سوم وای هیواد پریږدی؟

رخسار وویل: هو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: نو چیری ځی،

رخسار وویل: ځم د اکا کره د تل لپاره،

وصال په زهیره لهجه وویل: رخسار زما څخه کمه غلطی سویده چي ته ما پریږدی ته ماته سزا راکه زه هر رکم سزا ته تیار یم که وایی چی ځان مړ که زه دیته هم تیار یم خو ما مه پریږده زه بیله تا ژوند نسم کولای،

رخسار وویل: وصاله زه زیاتو خبرو ته وخت نلرم زما پرواز ته لږ وخت پاته دی،

وصال څو شیبی د رخسار سترګو ته کتل او بیا یی وویل: سمده رخسار چی څنګه ستا خوښه یی چی ته خوشحاله یی زه خوشحاله یم چی هر ځای یی خو یوه غوښتنه ده راځه تر هوایی میدانه پوری به دی زه ورسوم،

رخسار وویل: نه نه زه خپله تلای سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال وویل: هیله کوم رخسار راځه دا اخیری شیبې خو به یو ځای سره تیری کو،

رخسار وویل: سمده درځه،

وصال ډیر خوشحاله سو او رخسار ته یی د موټر دروازه ور خلاص کړه او رخسار کښینستل او د هوایی میدان پر طرف رهی سول په لاره کی وصال و رخسار ته وویل: رخسار ایا ته بی ما هلته ژوند کولای سی زه خو بیله تا یوه دقیقه نسم تیرولای،

رخسار وویل: وصاله ته ډیر ښه انسان یی یو ښه انجلی د ځان لپاره پیدا که او واده ور سره وکه زه به دی ژر هیره سم او هغه انجلی به ډیره بختوره وی چی ته یی په نصیب سی،

وصال وویل: نو ته می ولی پریږدی که زه ښه انسان وای نو تا به نه پریښولای رخسار زه بیا هم زاری درته کوم چی ما یوازی مه پریږده،

رخسار وویل: وصاله پر ما ناوخته کیږی زه ستا سره په موټر کی په همدی نه راتلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال چپ سو او څو شیبې وروسته هوایی میدان راورسیدی کله چي میدان راورسیدی نو رخسار ژر تر موټر کښته سول او بسته یې واخیستل در سره او وصال ته یې وویل: نو زه ځم د خدای په امان،

وصال ورغلی او رخسار یې پر تندی مچ (ښکُل) کړه او په ژړغونی اواز یې ورته وویل: الله دی مل سه رخسار،

کله چي رخسار روانه سول نو تر سترګو یې د الماسو پڅیر ښکلی اوښکې پر مخ د اوبو پڅیر روانی سوی خو وصال ته یې تر شا نه کتل وصال هغه د شا له طرفه څارل رخسار د ترمینل پر طرف روانه وه او تر سترګو یې دوامداره اوښکی تویيدی کله چي د تلاښی تر ځای ووتل نو د شا له طرف یې وصال ته مخ ور واړوی په سرو او په اوښکو ډکو سترګو یې وصال ته د خدای په امانی لاس پورته کړ وصال هم لاس ورته پورته کړ خو څو شیبې وروسته وصال ډیر حیران سو او په ډیری حیرانی یې رخسار ته کتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار هم حیرانه سول چي وصال ولی داسی په حیرانی و دي ته ګوری کله چي رخسار پزی ته لاس ور وړ نو ویلیدل چي تر پزی یی وینی راغلی وی وصال ژر د رخسار وخواته ورځغستل او هغه یی د امنیت له ځایه دباندی راویستل او ورته یی وویل: رخسار په تا څه سویدی؟

رخسار ژر د خپلی پزی وینی پاکی کړی او ویویل: هیڅ نه دی راسوی هغه داغسی...،

وصال وویل: ته درواغ وایی رخسار هتماً یو خبره ده چی ته یی زما څخه پټوی،

رخسار وویل: نه نه وصال هیڅ خبره نه ده زه سمه.....، رخسار لا خبره نه وه خلاصه کړی چي بی هوښه سول وصال ژر هغه روغتون ته ورسول کله چي ډاکټرانو د هغی معاینات وکړل نو وصال ته یی وویل: ښاغلې وصال صاحب ستاسو میرمن رخسار په سرطان اخته ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال ډیر حیران سو او تر سترګو یې اوښکې راغلی په دی وخت کی د رخسار پلار او شکیب هم راورسیدل وصال د رخسار پلار ته په ژړا کی وویل: بابا ډاکټر صاحب وایی زما رخسار سرطان ده،

د رخسار پلار وویل: خبر یم زویه،

وصال حیران سو او د رخسار پلار ته یی وویل: ته مخکی خبر وی بابا؟

د رخسار پلار وویل: هو زویه خبر وم،

وصال وویل: نو تاسو زه ولی نه خبرولم؟

شکیب وویل: وصاله زه د رخسار شیدو خوړونکی ورور او د هغي ډاکټر یم ما غوښتل چی تاته ووایم خو رخسار ما او کاکا ته قسم راکی چی مور باید تا خبر نه کو او هغی زما سره د مینی ناټک او ته یی ځکه خوابدی کړی او ستا څخه تلل چی ته د هغی څخه نفرط وکی او د یوی بلی انجلی سره واده وکړی چی بیا ستا دا هیره سی پو هیږی وصاله هغی چی به تاته هر واری ناکی او ناخوښه خبره کول نو دومره به یی ژړل چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیږدی به وو چی د ډیری ژړا څخه یی سترګی ړندی سوی وای هغه ستا سره ډیره مینه کوی خو ستا د خوشحالی لپاره یی دا هر څه کول،شپاړسمه برخه:

وصال ددی خبرو په اوریدو ډیر وژړل او بیا شکیب وویل: وصاله رخسار خور می د وینی سرطان ده او د هغی د وینی د خرابتیا له وجی د هغی د زړه نیمایی برخی کار پری ایښی دی او نور هم خرابیږی او هغه زموږ سره د یو څو ورځو میلمه ده،

کله چی وصال د شکیب دا خبره چی رخسار زموږ سره د څو ورځو میلمه ده نو ډیر حیران سو او په حیرانی سره یی شکیب تر ګریوان ونیوی او هغه ته یی وویل: یو څو ورځی دی د ډاکټری درس ویلی دی او اوس دلته زما پر رخسار داسی پریکړی کوی؟

نورو ډاکټرانو هم وصال ته وویل: وصاله ډاکټر شکیب چی څه وویل هغه ریښتیا دی،

وصال وویل: زه ستاسو خبری نه منم زما په رخسار هیڅ نه کیږی زه هغه د نړی تر ټولو تکړه ډاکټرانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیایم زه هغه نه پرېږدم چي زما څخه ولاړه سی که څه هم زما کمپنیانی زما کورونه او زما ژوند پکښی ځی،

ډاکټرانو وویل: وصاله موږ د نړی تر ټولو د تکړه ډاکټرانو سره ددی مریضی په اړه خبری کړیدی هغوی موږ ته منفی جواب راکړیدی او ویلی یی دی چی ددی مریضی تداوی ناممکینه ده،

وصال وویل: تاسو درواغ وایست،

بیا د رخسار پلار وویل: وصاله زویه ډاکټران چي څه وایی همدا ربنتیا دی ما خپله هم د هغوی سره خبری کړیدی،

وصال وویل: نه زه دا نه منم،

د رخسار پلار وصال ته چپلاخه پر مخ ورکړه او په ژړا یی وصال ته وویل: زه د هغی پلار یم بی عقله!! ما به خپل مال او ځان ټول د هغی د تداوی لپاره قربانی کړی وای خو د هغی تداوی ناممکینه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصال تر سترګو بی اختیاره اوښکې روانی وی او ډیر یی وژړل او بیا د رخسار د عملیاتو و اطاق ته ورلی رخسار هم تازه په هوښ کی راغلی وه وصال د هغی په سترګو کی سترګی ښخی کړی او بیا دواړو ټینګ په غیږ کی سره ونیول او ډیر یی وژړل وصال رخسار ته وویل: رخسار ډاکټران وایی چی ته زما څخه ځی خو ته د دوی خبره مه منه زه نه پریږدم چي ته زما څخه جلا سی زه به خپل ځان هم ستا لپاره خرځ کم خو نه پریږدم چي په تا څه وسی،

رخسار چی تر سترګو یی اوښکې بهیدلی وویل: وصاله هغوی چي څه وایی رښتیا دی زما د ناروغی درملنه نامکینه ده،

وصال وویل: رخسار ته هم داسی وایی؟

رخسار وویل: وصاله دا د الله کړه دی او دا حقیقت دی پټیدای نسی د تقدیر څخه تیښته نسته همدا زما تقدیر کی لیکل سوی وه بل دا چي زما دعا خدای قبوله کړه،

وصال حیران سو او بیا یی وویل: کمه دعا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخسار وويل: وصال ستا فیاد دی چی تا ته‌کر کړی وو په هغه ورځ ما الله ته دعا کړی وه چي خدای دی زما مرګ ستا د مرګ څخه مخکی کړی ځکه چی زه ستا پر بدن یو کوچنی زخم لا نسم لیدلای،

وصال رخسار ته ډیر بد بد وکتل او بیا یی هغی ته وویل: ایا نو زه به ستا مرګ وزغملای سم؟

رخسار وژړل او بیا یی وویل: وصاله ته زما سره وعده وکه چي زما تر مرګ وروسته به ته هیڅ غم نه کوی که نه زما روح به بیا نا ارامه وی،

وصال او رخسار ډیر سره وژړل او بیا وصال وویل: رخسار زه دا وعده نسم کولای در سره ځکه ته زما ساه یی او بی ساه ژوند کله امکان لری،

رخسار وویل: وصاله پوهیږی ما ستا څخه ولی طلاق غوښتی د همدی لپاره چي ته د یوی بلی انجلی سره واده وکړی نو زه به دی هیره سم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصال حیران سو او بیا یی وویل: رخسار زه ستا وم ستا یم او تر مرګه به ستا یم په الله قسم ستا ځای به هیڅکله چاته ورنه کم،

رخسار وویل: لیونی کیږه مه وصاله ته دی خپل ژوند شروع که زه په دی ډیره خوشحاله کیږم چی تا خوشحالهووینم،

وصال وویل: رخسار ته زما خوشحالی یی ته زما هر څه یی زه به هیچا ته اجازه نه کم ور چي زما و ژوند ته دی راسی موږ په همدی اونیۍ کی واده کوو،

رخسار ډیر وژړل او بیا یی ډاکټر ته وویل: ډاکټر صاحب زه څومره وخت لرم زما د خاوند سره د اوسیدو ایا یو میاشت موږ سره اوسیدلای سو؟

ډاکټر سر لاندی وزړوی څه یی ونه ویل او رخسار پوه سوه چي دومره وخت نلرم بیا یی وویل: ډاکټر صاحب ایا پر لاسو می د واده د نکریزو تر پاکیدو پوری وخت لرم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر بیا څه ونه ویل او بیا رخسار وویل: زه څومره وخت لرم ډاکټر صاحب؟

ډاکټر وویل: یوه اوونۍ،

وصال او رخسار ډیر حیران سول او بیا وصال پر ځنګنو سو او چغی یی کړی او سر یی د مځکی وهی ټول ډاکټران او د رخسار پلار راغلل او وصال ته یی وویل: وصاله ستاسو دا چغی او ژړاوی مریض نور هم تاوانی کوی او هغی ته زیات زیان رسیږی،

وصال ارام سو د رخسار تر سترګو هم بی اختیاره د ملغرو پڅیر اوښکې پر مخ بهیدلی، وصال او کورنۍ یی د واده تیاری شروع کړ او په دوو ورځو کی یی د واده تیاری ونیوی او دریمه ورځ وروسته د رخسار او وصال واده وسو وصال رخسار ته زیاته مینه ورکړه او د هغی څخه یی د هغی مرګ هیر کړ کله چی پنځمه ورځ خلاصه سول نو سهار چی کله وصال راکښینستی نو ګوری چی رخسار په بیستر کی نسته نو ډیر حیران سو ژر ژر یی په نورو اطاقو کی وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هلته رخسار نه وه کله چی یی په صالون کی وکتل نو ویلیدل چي رخسار پر لمانځه وه او دعاوی یی کولی وصال موسکی سو او ور ناره یی کړه: رخسار خاوند دی هیر نه کی هغه ته هم دعا وکه،

رخسار هم ددی بڼغ په اوریدو موسکی سوه او الله ته یی په دعا کی وویل: یا الله ته زما خاوند تل خوشحاله لری ته د هغه هر مشکل ور حل کړی ته تل د ژوند په ټولو چارو کی د هغه سره کمک وکړی او زما وروسته چی پر هغه کم غم راځی ته هغه دده څخه لیری کړی یا الله ته یی د هره غمه وساتی امین!،

وصال غوښتل چي رخسار ته جوس ور جوړ کړی کله چی یی جوس ور جوړ کړ نو د هغی پر طرف رهی سو چی ور یی کړی خو کله چی رخسار ته ورسیدی نو ویلیدل چی رخسار د لمانځه پر ځای چپه سویده وصال ژر ور وځغستل او هغه یی راپورته کړه خو هغه په هوښ کی نه وه کله چی یی روغتون ته ورسول نو هلته یی بیستر کړه د وصال او د رخسار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنیو غړی هم راورسیدل ټول ورته انتظار وه د وصال تر سترګو دوامداره اوښکې بهیدلی څو شیبی وروسته ډاکټران راووتل او ویویل: د رخسار حالت ډیر خراب دی تاسو کولای سی چی د هغی سرهووینی،

ټول ورغلل ویلیدل چی د رخسار حالت ډیر خراب وو د اکسیجن ماسک یی په خوله وو د وصال پلار په ژړا کی رخسار ته وویل: مړووری! زه ستا څخه ډیر خوابدی یم دا څنګه مړور می یی د خوسر سره دی باندار ولا نکی زه ستا څخه ډیر خوابدی یم،

بیا د وصال ورونو د رخسار سره خبری وکړی څو شیبی وروسته د رخسار پلار رخسار پر تندی مچ کړه او ټولو ته یی وویل: وبخښی! هیله ده چی څو شیبی رخسار او خاوند یی سره پریږدی،

ټول دباندی ووتل وصال د رخسار څنګته کښینستی د هغی لاس یی په لاس کی ونیوی او ډیر یی وژړل رخسار د هغه لاس وښوروی او خپل ځانته یی متوجی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ او بیا یی د اکسیجن ماسک له خولی لیری کړ او په کراری یی وویل: وصال وصال ته خو اوس لا خپله وعده ماتوی زه په تا باور نلرم ما تاته نه وویل چی ته به زما څخه وروسته هیڅ پریشانی نه کوی که تا داسی وکړه نو زما روح به ډیره بی ارامه وی زما سره وعده وکه چي ته به هیڅ غم نه کوی او تل به خوشحاله ګرځی وعده وکه راسره،

وصال د رخسار لاس مچ کړ او د هوکړی سر یی وښوراوه د رخسار اخیری سلګی وی نو یی وصال ته وویل: وصاله ما په خپل غیږ کی ونیسه،

وصال رخسار په خپل غیږ کی ونیول د وصال او د رخسار کورنی د عملیاتو د اطاق مخته انتظار وه څو شیبی وروسته وصال د عملیاتو د اطاق څخه راووتی او ژړا پکښی وچه سوی وه او حواس یی د لاسه ورکړی وه لاسونه یی پسی مړه وه پلار او ورونو یی ناری پر وهلی وصاله! وصاله! خو وصال هیڅ نه ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول د عملیات اطاق ته ور دننه سوه نو ویلیدل چی رخسار خپل روح حق ته سپارلی وه،

ځینی بی پوښتنی راسی زموږ زړونه خپل کی موږ ته د ژوند کولو سبب سی خو یوه ورځ بی پوښتنی ولاړ سی او د تل لپاره مو یوازی پریږدی او زړونه مو زخمی کی داسی زخمی چی بیا هیڅ دارو درمل تاثیر نه پر کوی ته پوهیږی رخسار لومړنی مینه چی د چا سره سی هغه هیڅکله نه هیریږی که د دنیا ټولی خوشحالی او نعمتونه هم درکړل سی خو بیا هم نه هیریږی ته زما لومړنی او اخیری مینه یی بیله تا خو زه ژوندی یم خو د ژوند کولو نه یم د مړ جسد او زما هیڅ فرق نسته رخسار ته می ډیره یادیږی ایا زه ستا همدومره یادیږم؟

رخسار+................ :

نه راته وایی ایا د خاوند ښځه دی خوابدي یی؟

رخسار+................. :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا زما سره خبری نه کوی ښه خیر زه به یو ټوکه درته ووایم که دی خوښه سول نو معافوی به می که نه نو بیا به په یو بله طریقه ځان ستا د خوابدتیا څخه خلاص کم نو ورته غوږ سه: دوه ملګري پر لار روان وه چی د غوا خوشایی یی ولیدل دا یوه ملګری دا بل ته وویل چی دا به چشی وی هغه بل ورته وویل چی نه پوهیږم چی چشی به وی دا بل ملګری یی وویل چی ته وده زه به یی خوند وګورم کله چی یی خوند وکتی نو ویویل اووی دا خو د غوا خوشایی دی ښه دی چی نه یو پکښی ختلی هههههههه ټوکه دی خوښه سول رخسار؟

رخسار+................ :

نسوه دی خوښه؟ ښه خیر زه به یو څو بیتونه درته ووایم چی ستا لپاره می جوړ کړیدی،

دغه ژوند دی چی د یار په څنګ کی اوسی

بیله یاره کل جهان په چا زندان ســـــــــی

خدای دی نکړی څوک له یاره نه جـــــــدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین سهار به ورته ښکاری تور ماښـــــام
ما د یار پر ځنګ ژوند د ملنګی خوښــــوی
بیله یاره شتمنی د جهان څــــــه کـــــــړم
که یار می ولاړی تور لحد ته له ما لیــــــری
ربه ماته هم نصیب کړی لحـــــــــدونــــــــه
د چا چی نوم زما بارک پر زړه لیـــــکلـــــــی
نه به پاک سی نه به هیر سی او نه لیـــــری

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوال په اړه

نیک محمد بارک موسوي د محمد عیسی موسوي زوی او د موسی جان لمسی دی چی په ۱۳۷۸ه ش کال کی یی د کندهار په ولایت کی دی دنیا ته تشریف راوړ. اسلامی زده کړی یی د کندهار په بیلابیلو مدرسو کی زده کړی او په دولس کلنی کی یی د قرانکریم د قاریتوب سند تر لاسه کی لومړنی عصری زده کړی یی د حاجی میرویس خان نیکه په عالی لیسه کی پای ته رسولی او په ۱۳۹۷ کال کی د کانکور په ازموینه کی د کندهار پوهنتون د انجینری پوهنځی ته کامیاب سو چی د څه ستونزو لکبله یی ونسوای کولای چی نوموړی پوهنځی ته ادامه ورکړی چی بیا یی د عالی زده کړو لپاره د نرسنګ انسټیټوټ ته امتحان ورکړ او په ښو نمرو نوموړی رشتی ته انتخاب سو چی فعلن د نوموړی انسټیټوټ د پنځم سمیسټر محصل دی. نوموړی اوس ۲۰ کلن او مجرد دی تر ټولو لوی ارمان یی وطن او خپلی مورنی ژبی ته نه ستړی کیدونکی خدمت دی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**